**ADVICE RESOURCES**

# کډوال او پناه غوښتونکي

## د زده کړې، روزنې او کار موندنې په اړه لارښود



د **RAGU** (**R**efugee **A**ssessment and **G**uidance **U**nit) له اړخه د مشورې – سرچینو له پاره چمتو شوی، لندن میټروپولیټن پوهنتون، جولائي 2006 میلادي کال

د وروستي ځل لپاره ددې سند د نوي کیدو نیټه : ستمبر 2008 (September 2008) میلادي کال

The Empowering Asylum Seekers to Integrate (EASI) Development Partnership and the Partnership for Refugee Employment Through Support, Training and Online Learning (PRESTO) Development Partnership are part funded by the European Social Fund under the Equal Community Initiative Programme.

ADVICE RESOURCES



# مضامين

## د کډوالو او پناه غوښتونکو لۀ پاره لارښود


| | |
|---|---|
| د دي لارښود پۀ اړه | 3 |
| د مهاجرت دريځ او حقوق او وړتياوي | 4 |
| د انګليسي زده کړه | 9 |
| زده کړه | 13 |
| روزنه | 19 |
| رضاکارانه کار کوونه | 21 |
| کار روزګار او خپل-کار روزګار | 24 |
| د بهرني هېوادونو څخه تر لاسه کړي شوي وړتوبونه (Qualifications) او تجربه پۀ کار کښي راوستنه | 33 |
| بيا وړتوبونه | 36 |
| ګټور تړاوونه (تماسونه) | 39 |
| ژبزبړمګی (قاموسګی) | 43 |


www.advice-resources.co.uk

ADVICE RESOURCES



# د دې لاربنود په اړه
## د کډوالو او پناه غوښتونکو لهٔ پاره لاربنود

### دا لاربنود چا د پاره دی؟
دا لاربنود د هغو لویانو کډوالو او پناه غوښتونکو (چې د 16 کلونو نه ډېر عمر وي) لهٔ پاره دی څوک چې پهٔ انګلېنډ کښې استوګنه کوي. پهٔ دې لاربنود کښې د کډوال اصطلاح به د هغو تولو لهٔ پاره پهٔ کار کښې راوستلی شي څوک چې کډوال دریځ (Refugee) Status، د پاتې کېدلو لهٔ پاره ناټاکلئ اجازه (Indefinite Leave to Remain) (ILR)، د پاتې کېدلو یا ننوتلو لهٔ پاره استثنائي اجازه (Exceptional Leave to Remain (ELR) or Enter (ELE)، انساني بنسټ باندې ژغورنه ( Humanitarian Protection) (HP)، یا اختیاري اجازه (Discretionary Leave) (DL) لري، تر هغې که چېرې د دې نه پهٔ بله توګه سره پهٔ نخښه شوي نهٔ وي. د پناه غوښتونکي (asylum seeker) اصطلاح به هغو خلکو ته ور ګرځوونه کوي څوک چې د پناه اخیستلو په اړه نه فیصله شوئي دعوه لري، چې پکښې هغه هم شامل دي کوم چې د اپیل پهٔ دریځ کښې وي.

### دا لاربنود څهٔ مواد لري؟
دا لاربنود د زده کړې، روزني، رضاکارانه کار کولو اوندي او د کار پهٔ اړه معلومات لري او د دې سره سره د کډوالو او پناه غوښتونکو د حقوقو او ورتیاوو پهٔ اړه نور معلومات هم لري. چېرې چې دا ممکن نهٔ وي چې د هېڅ یو موضوع پهٔ اړه معلومات وړاندې کړی شي، نو مونږ د نورو ټولنو (تنظیمونو) یا ویبځایونو ځیلیکونه وړاندې کړي دي کوم به چې مرستې وړاندې او ور کړی شي.

### زهٔ به دا لاربنود څنګه پهٔ کار کښې را وستلی شم؟
دا لاربنود پهٔ بېلابېلو موضوعګانو باندې پهٔ څرګنده برخو کښې وېشلی شوی دی، لکه چې زده کړه او رضاکارانه کار کول. تاسو کولی شئ چې ټول لاربنود پهٔ بشپړه توګه سره و لولئ یا دا چې نېغ هم هغې برخې ته لاړ شئ چې کوم کښې تاسو لهٔ پاره پهٔ زړهٔ پورې مطالب موجود وي. که داسې څهٔ ټکی یا د ټکي لنډه بڼه وي چې هغه تاسو نهٔ پېژنئ نو تاسو کولی شئ چې هغه پهٔ ژبزېرمګی کښې موندهٔ کړی. د کټور ټولنو (تنظیمونو) پهٔ اړه د ټراؤ تفصیلات د لاربنود پهٔ پایه کښې ور کړي شوي دي.

### دا لاربنود چا لهٔ اړخه جوړ کړی شوی دی؟
دا لاربنود پهٔ (www.londonmet.ac.uk/ragu) London Metropolitan University کښې د RAGU (Refugee Assessment and Guidance Unit) لهٔ اړخه جوړ کړی شوی دی. د دې د کډوالو ټولنې پهٔ 9 ژبو کښې ژباړه شوئي ده. د RAGU لهٔ اړخه یو مل لاربنود هم جوړ کړی شوی دی کوم چې د هغو سلاکارانو لهٔ پاره دی څوک چې د کډوالو او پناه غوښتونکو سره کار کوي.RAGU به دا لاربنودونه پهٔ باقاعدګۍ سره پر نېټه کوي (د وخت سره به معلومات نوي کوي).

### زهٔ خپل خیالات او وړاندیزونه څنګه وړاندې کولی شم؟
که تاسو د کډوالو او پناه غوښتونکو لهٔ پاره د دې لاربنود پهٔ اړه څهٔ هم ویناګانې (وړاندیزونه) لرئ نو لطفاً هغه پهٔ دې برېښنالیک باندې راولېږئ ca-advice-resources@lsc.gov.uk.

www.advice-resources.co.uk

ADVICE RESOURCES



# د مهاجرت دريځ او حقوق او ورتياوې

## د کډوالو او پناه غوښتونکو لۀ پاره لارښود

### زما د مهاجرت دريځ پۀ څۀ ډول سره زما حقوق او ورتياوو باندې اغېزه اچوي؟

که چېرې تاسو **کډوال** ياست نو تاسو **زياتره هغو ټولو خدمتونو** ته **ور ياست** کوم چې يو برتانوي وګړي ته ور کېدلی شي. ځنې ورتياوې د تاسو د پاتې کېدلو د اجازې او پۀ دې هېواد کښې تېر کړي وخت پۀ مودې سره تړاؤ لري. که تاسو **پناه غوښتونکی** کس ياست نو تاسو به و وينئ چې پۀ برتانئې کښې تاسو **حقوق او ورتياوې محدودې کړئې شوئې** دي، پۀ ځانګړئې توګه سره د کار کولو او مالي ملاتړ پۀ حق له.

که پۀ برتانئې کښې د تاسو **د پاتې کېدلو اجازه ختمه شوئې وي** (لکه د مثال پۀ توګه د يو يوازې کوچني پۀ توګه تاسو ته DL درکړی شوی وي تر څو چې تاسو 18 کلن شئ) او تاسو پۀ دې کښې د ختمېدنې د نېټې نه وړاندې **د غزووني لۀ پاره غوښتنليک ورکړئ**، نو بيا پۀ برتانيه کښې د تاسو **د پاتې کېدلو اجازه** به تر هغې پورې **دوام ولري** تر څو چې د دې غزووني پۀ اړه پرېکړه نۀ وي شوئې. د تاسو حقوق او ورتياوې به هم هغسې پاتې وي.

### زۀ نورې مشورې لۀ چېرته نه ترلاسه کولی شمه؟

که تاسو پناه غوښتونکی کس ياست نو تاسو ته پۀ کار دي چې د ملاتړ او مشورې پۀ اړه د خپل ځائي **يو دربد خدمت Service (One Stop)** سره تړاؤ ونيسئ. هر يو One Stop Service د يو لوی **کډوالو اژانس** لۀ خوا چلېږي، لکه څنګه چې Refugee Council . د خپل ځائي One Stop Service د موندلو لۀ پاره دلته کښې وګورئ:
http://languages.refugeecouncil.org.uk/english/services.htm

One Stop Service تاسو سره د ملاتړ او استوګنې لۀ پاره غوښتنليک ورکولو کښې مرسته کولی شي، تاسو ته د پناه اخيستنې د بهير پۀ اړه نور معلومات درکولی شي او تاسو نورو ګټورو ټولنو پۀ لورې ور ګرزولی شي. که تاسو کډوال ياست نو د تاسو One Stop Service کېدی شي چې تاسو سره د ګټو تر لاسه کولو لۀ پاره غوښتنليک ورکولو کښې مرسته وکړي او تاسو ته د زده کړو، روزنو او کار موندلو پۀ اړه معلومات وړاندې کړي. تاسو د خپل حقوقو او ورتياو پۀ اړه ځنې ګټور معلومات د لاندې ورکړې شوې ويبپاڼې نه پۀ 20 ژبو کښې تر لاسه کولی شئ: http://languages.refugeecouncil.org.uk

### د زده کړو پۀ اړه زۀ څۀ ډول ورتياوې لرمه؟

ټول پناه غوښتونکي او کډوال **کوچنيان (ماشومان) وړيا زده کړو ته ور دي**. که تاسو د NASS لۀ اړخه ګټې يا ملاتړ تر لاسه کوئ نو تاسو د خپل کوچني لۀ پاره پۀ ښوونځي کښې د وړيا خوړو لۀ پاره ور ياست. تاسو بايد چې د ښوونځي جامو (uniform) او تګ را تګ پۀ لړ کښې مرسته تر لاسه کړئ. تاسو ته پۀ کار دي چې پدې لړ کښې نور معلومات تر لاسه کولو لۀ پاره د ښوونځي سره خبرې وکړئ. د 3 او 4 کالونو پورې ټول کوچنيان دې ته ورتيا لري چې د پۀ وړکتون، لوبو ټولګي يا ښوونځي کښې د پر وړاندې زده کړو لۀ پاره ځاې کړي. د کډوالو کونسل د کډوالو د ماشومانو پۀ اړۀ د معلوماتو يوه ريښتين پاڼه (factsheet) لري:
http://languages.refugeecouncil.org.uk/pdf/English/Schools_English.pdf

پناه غوښتونکي او کډوال دې ته **ورتيا لري چې هېڅ يو پوړ کښې هېڅ يو کورس و لولي (و وائي)**، تر څو چې تاسو د دې جوګه شئ چې پۀ **کورس کښې د ننه کېدلو (داخلېدلو) پۀ اړه غوښتنې بشپړه کړئ شئ** او دا چې **د کورس فيس ور کولی شئ**. تاسو ته به څومره فيس ور کول وي او تاسو کوم ملاتړ لۀ پاره ورتيا لرئ، دا ټول به د تاسو د مهاجرت دريځ او پۀ برتانئې کښې د تاسو د تېرې کړئې شوئې مودې پورې تکيه لري

www.advice-resources.co.uk

Produced for advice-resources by RAGU, London Metropolitan University, July 2006. Last updated: Sep 2008.

## د روزنو په اړه زه څۀ ډول ورتیاوې لرمه؟

د مسلکي روزنو په اړه به د تاسو ورتیاوې **د تاسو د مهاجرت دریځ سره تړاؤ ولري**. **کډوال** دې ته ورتیا لري چې **د روزنو حکومتي سکیمونو ته رسېدنه ولري**، لکه څنګه چې د لویانو لۀ پاره د کار پر بنسټ زده کړه (Work Based Learning for Adults). که تاسو **پناه غوښتونکی کس** یاست نو تاسو دې حکومتي سکیمونو ته **ورتیا نۀ لرئ**، تر دې که تاسو د کار کولو په اړه اجازه هم لری. که تاسو پناه غوښتونکی کس یاست او تاسو د کار کولو په اړه اجازه لرئ نو تاسو کولی شئ چې د یو کار ورکوونکي لۀ خوا مسلکي روزنه تر لاسه کړئ.

## آیا زۀ کولی شم چې کار ولرم یا ځان لۀ خپل کار وکړم؟

کډوالو ته **پۀ برتانئي کښې د کار کولو پۀ اړه اجازه شته او دوی سره به باید هم هغه ډول چلند وشي لکه څنګه چې د یو بل کار کوونکي سره کېږي**. پۀ دې کښې دا هم شامل دي چې دوی ته به چې لږ هم وي نو لږ نه لږ مزد (minimum wage) ورکړی شي. لږ نه لږ مزد یو قانوني حق دی کوم چې هغه ټول کار کوونکیو لۀ پاره دی څوک چې د لازمي ښوونځي د عمر نه لوی وي او دا د حکومت لۀ خوا مقرر شوی دی. تاسو نور معلومات د ملي لږ نه لږ مزد د مرستې د ټېلیفوني کرخې نه پۀ 678 6000 0845 لمبر باندې تر لاسه کولی شئ یا لۀ دې لاندې ویبځې څخه: www.hmrc.gov.uk/nmw

که تاسو **پناه غوښتونکی** کس یاست نو تاسو **د اجرائي کار کولو لۀ پاره وړ نۀ یاست**، تر څو چې تاسو ته د کار کولو لۀ پاره اجازه (permission to work) نۀ وي در کړئي شوئې. پۀ دې کښې خپل ځاني کاروبار کولو هم شامل دي. تاسو کولی شئ چې **د کار کولو د اجازې لۀ پاره غوښتنلیک ورکړئ** که تاسو **د 12میاشتو نه ډېر انتظار کړی وي** او د کورنۍ چارو د وزارت (Home Office) لۀ اړخه **د تاسو د پناه غوښتني دعوې پۀ اړه ړومبنی پرېکړه** لا نۀ وي درکړئي شوئې. تر دې که اوس تاسو اوس د اپیل پۀ پوړ کښې هم یاست، نو تاسو بیا هم کولی شئ چې د کار کولو لۀ پاره د اجازې لۀ پاره غوښتنلیک ورکړئ که چېرې د تاسو د ړومبنی پرېکړې پۀ اړه د انتظار موده 12 میاشتې یا د دې نه سېوا وه. د کار کولو د اجازې لۀ پاره غتبنلیک ورکولو لۀ پاره تاسو ته پۀ کار دي چې Asylum Casework Directorate, Lunar House, 40 Wellesley Road, Croydon, CR9 2BY ته ولیکئ. دا مهمه ده چې تاسو د Home Office لۀ خوا درکړی شوی خپل د ورګرزوونې لمبر هم پکښې ولیکئ.

که تاسو ته د کار کولو لۀ پاره اجازه در کړی شي نو تاسو دا اجازه تر هغې پورې ځان سره وساتئ تر څو چې تاسو د پناه غوښتنې د دعوې پۀ اړه اخري پرېکړه نۀ وشي. د تاسو د غوښتنلیک ثبتوني کارت ((Application Registration Card (ARC) کښې به بدلون وکړئ شي چې دا پکښې څرګند کړې شي چې تاسو د کار کولو اجازه لرئ. که تاسو **د کار کولو د اجازې لۀ پاره غوښتنلیک ورکوئ** نو پۀ کار دي چې تاسو **لومړی غوښتونکی وئ**. د مثال پۀ توګه، که چېرې د پناه غوښتنې دعوه د تاسو د ژوندمل (partner) یا د تاسو د مورپلار پۀ نوم وي نو بیا تاسو د کار کولو د اجازې لۀ پاره غوښتنلیک نۀ شئ ورکولی.

پۀ برتانئي کښې کار کوونکو ته د کار کووني قانون تر مخه ژغورنه ور کولي کېږي، پۀ کوم کښې چې دا ډول حقوق شامل دي: د جنس یا توکم پر بنسټ ناوړه توپیر، لچک وړ کار کول، او د زېږد سره تړلي د مور او پلار لۀ پاره حقوق. د دې پۀ اړه نور معلومات لاندېني ویبپاڼو تر لاسه کولی شئ:

- www.berr.gov.uk/whatwedo/employment/
- www.direct.gov.uk/en/Employment/index.htm
- www.adviceguide.org.uk/employment

د بیمې ملي لمبر ((National Insurance Number (NINO) یو داسې ځانګړی لمبر دی چې هغه د تاسو پېژندنه کوي او د ښېګړو لۀ پاره او د کار ورکونکو لۀ لوري د ور ګرزونې لۀ پاره پۀ کار کښې راوستلی شي. زیاتره کډوال به خپل NINO هغه مهال تر لاسه کړي کله چې دوی د Home Office لۀ اړخه د خپل دریځ د پخلیتوب پۀ اړه لیک تر لاسه کړي. که تاسو NINO نۀ لرئ او غواړئ چې دا تر لاسه کړئ نو پۀ دې لمبر باندې ټېلیفون وکړئ 6000643 0845. بیا به تاسو پۀ جاب سنټر (Jobcentre) کښې مرکه ورکوئ. تاسو لۀ پاره به پۀ کار وي چې ځان سره د پېژندنې او ځایلیک پۀ اړه ثبوت یوسئ.

## آیا زۀ رضاکارانه کار کولی شمه؟

رضارکاري مطلب دا دی چې د یوې ټولنې سره، چې زیاتره هغه خېریه یا رضاکارانه ټولنې وي، بې لۀ پیسو مرسته او کار وکړی شي. **پناه غوښتونکي او کډوال د رضاکار پۀ توګه کار کولو ته ورتیا لري.** پناه غوښتونکي پۀ رضاکارانه توګه کار کولو لۀ پاره اجازه اخیستلو ته اړتیا نۀ لري. که تاسو پناه غوښتونکی کس یاست او د تاسو د Home Office لاسوندونه دا وائي چې تاسو بې لۀ پیسو هم کار نۀ شئ کولی، تاسو بیا هم د رضاکار پۀ توګه کار کولی شئ.

www.advice-resources.co.uk

ټول **رضا کار** باید د **خرڅ پهٔ اړه پیسي تر لاسه کړي** لکه څنګه چي تګ را تګ او خواړهٔ. که چېرې تاسو د پناه غوښتني پهٔ ترڅ کښي ملاتړ یا ګټي تر لاسه کوئ نو بیا د دغو خرڅو پهٔ اړه چي تاسو کومي پیسي اخلئ هغه پهٔ کار دي چي هم ارو مرو د تاسو د خرڅ برابرې وي. که تاسو کډوال یاست او بنېګړې تر لاسه کوئ نو تاسو کولی شئ چي څومره مو زړهٔ غواړي هغه هومره رضاکارانه کار وکړئ، خو پهٔ کار نهٔ ده چي دا تاسو د دې نه مني کړي چي تاسو د پیسو ګټلو مخه ونیسی یا تاسو د کار لټولو نه مني کړي. تاسو له پهٔ کار دي چي د رضاکارانه کار کولو پهٔ اړه کښي پهٔ جاب سنټر کښي د چا سره خبرې اترې وکړئ چي بیا وروسته څهٔ ډول ګډوډي نهٔ را مینځ ته کېږي.

## آیا زهٔ بنېګړو یا د پناه غوښتني ملاتړ ته ورتیا لرمه؟

**زیاتره پناه غوښتونکي** د پناه ورکووني **ملي ملاتړ خدمت (National Asylum Support Service (NASS))** لهٔ **اړخه ملاتړ** ته ورتیا لري. دې کښي استوګنځی او مالي مرسته، یا که تاسو د استوګني پهٔ اړه څهٔ ځای لرئ نو یوازې مالي مرسته شاملېدلی شي. که د تاسو د پناه غوښتني دعوه رد کړئ شوئ وي او تاسو د اپیل پهٔ اړه خپل ټول حقوق هم استعمال کړي وي نو کېدی شي چي تاسو د NASS لهٔ اړخه د Section 4 'یا کلک دریځ' ('hard cases') ملاتړ ته ورتیا و لرئ، که چېرې تاسو د دې جوګه نهٔ وئ چي خپل هېواد ته بېرته ستون شئ. دا مهمه دا چي تاسو د خپل ځائي One Stop Service څخه مشوره تر لاسه کړئ. تاسو د پناه غوښتني ملاتړ پهٔ اړه نور معلومات د دې ویبځي نه پهٔ 20 ژبو کښي تر لاسه کولی شئ: http://languages.refugeecouncil.org.uk

**کډوال د بنېګړو تر لاسه کولو دعوو ته ورتیا لري.** که تاسو د خپل پناه غوښتني د دعوې پهٔ اړ کښي مثبته پرېکړه تر لاسه کړئ نو د NASS لهٔ اړخه ملاتړ به د 28 ورځو وروستو و ترلی شي. دا ډېره مهمه ده چي تاسو د بنېګړو پهٔ اړه تر ممکن حد پورې ژر نه ژر غوښتنلیک ورکړئ. د بنېګړو تر لاسه کولو لهٔ پاره دعوه ورکولو لهٔ پاره تاسو ته پهٔ کار دي چي خپل ځائي د کار موندني مکتب ته ولاړ شئ. تاسو خپل ځائي مکتب د دې ویبپاڼي نه موندلی شئ: www.jobcentreplus.gov.uk یا بیا د خپل One Stop Service نه د پوښتني د لارې.

**RIES (د کډوالو د ور ګډوني او کار موندني مرستي – Refugee Integration and Employment Services): RIES** یوه نویې مرسته ده چي د اکتوبر 2008 څخه پیل کېږي. RIES پهٔ مرستو کښي دغه شاملي دي: د انګلیسي ژبې ټولګیو ته، زده کړې او د روزني درسونه ته، د استوګني پهٔ اړه سلا مشورې ته به څنګه لاسرسي ولرلی شي او دا چي کار به څنګه موندهٔ کړی شي. RIES د کډوالو کونسل، د کډوالو کړني، سکاټش د کډوالو کونسل، ویلش د کډوالو کونسل او د شمالي انګلینډ د کډوالو مرستي (NERS) لهٔ خوا وړاندي کېدلی شي. دا پروګرامونه کډوالو ته د پاتې کېدني اجازه تر لاسه کولو نه وروسته د هغوی ږومبي کال کښي ملاتړ وړاندي کوي. دغه مرستي به دا وخت موجود کډوالو ته یا هغو نویو کډوالو ته چي ورته د دوسیې د هواري پروګرام لاندېې دریځ ورکړل شوی وي، نشي وړاندې کېدلی. یوازې هغه پناه غوښتونکي به ورته ورتیا لري چي د پناه ورکوني نوي موډیل (New Asylum Model – NAM) یا انساني ژغورني لاندې د 1 اکتوبر 2008 ورته د کډوال دریځ ورکړل شوی وي. د RIES ویب پاڼه: www.ukba.homeoffice.gov.uk/aboutus/workingwithus/workingwithasylum/integration/ries/

د 11م جون 2007 میلادي کال څخه، که تاسو ته د کډوال دریځ یا انساني بنسټ باندې ژغورنه درکړئ شوئ وي (او 18 کلن یا د دې څخه زیات عمر لرئ)، نو تاسو به وکړی شئ چي **د کډوالو د یو ځای کوني پور** لهٔ پاره غوښتنلیک ورکړئ. دا د تاسو د مرستي لهٔ پاره د سود نه بغېر پور وي چي تاسو جوګه شئ د هغو شیانو تر لاسه کولو کښي کوم چي د یو ځای کېدني لهٔ پاره د مرستي وړ ګرزي، پهٔ ځانګړئ توګه باندې چي د زده کړې، کار موندني او استوګني سره اړیکي لري. دغه پور د روزني یا بیا ورتوب تر لاسه کوني او یا بیا د استوګني لهٔ پاره ضمانت (پګړی) ورکولو لهٔ پاره د مالي مرستي پهٔ توګه کارولی شئ. تاسو به د خپلي مثبتي پرېکړې لیک سره د کډوالو د یوځای کوني پور لهٔ پاره د غوښتنلیک ورکولو فورمه تر لاسه کړئ. د غوښتنلیک دغه فورمه تاسو د دې ویبپاڼي څخه هم خپل کمپیوټر ته ښکته کولی شئ:
http://www.ukba.homeoffice.gov.uk/aboutus/workingwithus/workingwithasylum/integration/integrationloan/

## آیا زهٔ د استوګنځي لهٔ پاره ورتیا لرمه؟

که تاسو یو **داسي پناه غوښتونکی یاست څوک چي د NASS د اړخه ملاتړ تر لاسه کوي** نو تاسو د **NASS استوګنځي ته ورتیا لرئ**. خو د دې پرڅنګ کېدی شي چي تاسو ملګري یا کورنی لرئ څوک چي تاسو ته استوګنه در کولی شي. که تاسو غواړئ چي د NASS استوګنځی واخلئ نو بیا به تاسو دا خوښه و نهٔ لرئ چي د برتانئي پهٔ کومه سیمه کښي به تاسو استوګنه کوئ.

که تاسو **کډوال** یاست نو تاسو د **استوګنځي په اړه خپلې ځائي واکمنۍ** ته **غوښتنلیک** ورکولی شئ. د دې نه پرځنګ ترځنګ نورې هم ډېرې خوښې تاسو سره شته لکه څنګه چې شخصي د شتمنیو خاوندان او ثټب شوي ټولنیز د شتمنیو خاوندان. دا **خبره مهمه ده** چې تاسو د څۀ ډول پرېکړه کولو نه وړاندې **مشوره تر لاسه** کړئ. د استوګنې په اړه د مشورې لۀ پاره تاسو د Shelter سره تړاؤ نیولی شئ. کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د Shelter نوی لارښود دلته کښې شته دی: http://england.shelter.org.uk/shop/publications/adviser_tools/housing_guides/asylum_seekers_and_refugees

## آیا زۀ د روغتیا پاملرنې وړیا تر لاسه کولی شمه؟

د روغتیائي پاملرنو نظام ته NHS (د روغتیا ملي خدمت) وېئلی شي. **پناه غوښتونکي او کډوال** وړیا روغتیائي پاملرنو ته وړ دي. د NHS په اړه نورو معلوماتو لۀ پاره تاسو ځانګړې پاڼکې لوستلی شئ کومه چې په 40 نه ډېرو ژبو کښې جوړه شوې ده. تاسو ته دې لۀ پاره په کار دي چې د روغتیا د ځانګې ویبځي ته په دې ځایلیک باندې ورشئ: www.dh.gov.uk. د لټون په پوله کښې 'Introduction to the National Health Service' ولیکئ.

**NHS Direct** یو **24 ساعته ټیلیفوني خدمت** دی کوم چې په انګلېنډ او وېلز کښې خلکو ته پټې روغتیایي مشورې او معلومات وړاندې کوي. تاسو NHS Direct ته په 0845 46 47 باندې ټیلیفون کولی شئ که چېرې تاسو ناروغه محسوس کوئ یا که تاسو د خپل ځائي روغتون یا جي پي (GP) په اړه تفصیلات تر لاسه کول غواړئ. که تاسو ژباړې ته اړتیا لرئ نو تاسو ته په کار دي چې په انګلیسي کښې د هغې ژبې نوم و وایئ کومې کښې چې تاسو خبرې کوئ.

په 11م اپرېل 2008 میلادي کال (11.04.08)، د سترې محاکمې (High Court) قاضي دا پرېکړه ورکړه چې هغه ټول پناه غوښتونکي چې منل شوي نۀ وي باید روغتیایي پاملرنې ته وړتیا ولري.

## آیا زۀ قانوني مشوره تر لاسه کولی شمه؟

دا ډېره **مهمه** ده چې تاسو د څنې پرېکړو کولو نه وړاندې یا د فارمونو په روغ ډول سره بشپړه کولو لۀ پاره **قانوني مشوره تر لاسه کړئ**. دا په ځانګړې توګه سره رېښتیا دي که چېرې تاسو د پناه غوښتنې په اړه غوښتنلیک ورکوئ، د خپل پناه غوښتنې د دعوې په اړه منفي پرېکړې په اړه غوښتنلیک ورکوئ، د پاتې کېدلو په اړه خپله اجازه غزوول غواړئ یا د کورنۍ د یو ځائ کېدلو لۀ پاره غوښتنلیک ورکوئ. د خپل One Stop Service سره خبره وکړئ یا د نورو معلوماتو لۀ پاره د دې لارښود په پائې کښې لسټ شوي کومې یوې ټولنې سره تړاؤ ونیسئ.

د پناه غوښتنې په اړه ښه مشوره به څنګه تر لاسه کړئ، په دې اړه د لوستلو لۀ پاره معلومات په دې ویبځي باندې شته: www.advicenow.org.uk/asylumadvice. دا معلومات په نورو څو ځینو ژبو کښې هم په دې ویبځي باندې شته: www.multikulti.org.uk.

په Asylum Aid کښې د کډوالو ښځو د سرچینو پروژې (The Refugee's Women Resource Project) په برتانئې کښې **د پناه غوښتونکو ښځو** لۀ پاره یوه پاڼکې جوړه کړئې ده. دا پاڼکې لۀ دې ویبپاڼې څخه تر لاسه کولی شئ www.asylumaid.org.uk او د پناه غوښتونکو ټولنې په څو ځینو ژبو کښې یې ژباړه شوئې ده.

## زۀ څنګه یو مشاور موندلی شمه؟

د ډېرو ځینو معاملاتو لۀ پاره به تاسو دا و وینئ چې د معلومات تر لاسه کولو لۀ پاره یا د پرېکړه کولو لۀ پاره تاسو نورو مرستو او مشورو ته اړتیا لرئ. دې ته IAG (معلومات، مشوره او لارښوونه) وېئلی شي. په برتانئې کښې داسې **ډېرې ټولنې** شته کومې چې IAG **ورکوي** او یو څو ځینې داسې دي چې هغه په ځانګړې توګه سره د کډوالو او پناه غوښتونکو سره کار کوي. د تاسو ځائي **One Stop Service** لۀ هم دغو څخه یو دی او دا به د دې جوګه وي چې تاسو نورو مفیدو ګټورو اژانسونو په لورې **ور وګرزوي**.

کډوال او پناه غوښتونکي **د لرنډائریکټ (learndirect)** لۀ اړخه د **مسلک په اړه مشورې او لارښوونه وړیا** تر لاسه کولی شي. تاسو مشوره تر لاسه کولی شئ:

- **په انټرنیټ باندې لۀ دې څخه:** www.direct.gov.uk/careersadvice
- **د ټیلیفون د لارې** لۀ دې لمبر څخه 0800 100 900 څنې غبرګ ژبې سلاکار هم شته (د مثال په توګه په فراسیسي، فارسي، سومالي او اردو کښې).
- **د برېښنالیک د لارې:** http://careersadvice.direct.gov.uk/contactus/

**Nextstep** پهٔ انګلېنډ کښې داسې استوګنه لرونکو ته چې د 20 کلنې وي يا د دې نه لوی وي، د زده کړې او کار پهٔ اړه ورېيا معلومات ورکوي. تاسو د **nextstep** ويبځای پهٔ کار کښې راوستلی شئ چې خپل ځائي مکتب موندهٔ کړئ: http://nextstep.direct.gov.uk/

**Connexions** يوه داسې ټولنه ده کومه چې پهٔ انګلېنډ کښې استوګنه کوونکو د **19-13** کلنو راهسې کار کوي. تاسو د Connexions خپل ځائي دفتر د دې ويبپاڼې نه موندلی شئ: www.connexions-direct.com

ADVICE RESOURCES



# د انګليسي زده کړه

## د کډوالو او پناه غوښتونکو لۀ پاره لارښود

### زۀ انګليسي ولې زده کړمه؟

دا مهمه خبره ده چې پۀ برتانئې کښې استوګنه کولو پر مهال کښې تاسو د دې ځائې ژبه زده کړئ. ځائې ژبه زده کولو سره به **تاسو خپل ځان د ټولنې د يوې برخې پۀ توګه محسوس کړئ** او تاسو به وکړئ شئ چې ملګري جوړ **کړی** شئ او دا **د کار موندلو لۀ پاره هم مهمه** ده. اوس چې کډوال د برتانوي وګړتوب (تابعيت) لۀ پاره غوښتنليک ور کوي نو دوی لۀ پاره دا لازمي وي چې دا څرګند کړی شي چې دوی پۀ ESOL Entry Level 3 کښې دي. د ټولګي کوټې نه بهر د ژبې زده کوولو سره به تاسو وکړی شئ چې ځائې د ژبې بڼه زده کړی شئ او هم عام ټکي زده کړی.

### د اي ايس او ايل (ESOL) کورسونه څۀ شی دي؟

پۀ برتانئې کښې د انګليسي کورسونو ډېر خورا قسمونه دي. زياتره ESOL **(د نورو ژبو د ويئونکو لۀ پاره انګليسي)** کورسونه دي. د ESOL ټولګي (کلاسونه) د **بيلابيلو کچو د زده کوونکو لۀ پاره برابر کړي شوي دي**. د ننوتني کچ (Entry Level) لۀ ټولو څخه لاندېنی کچ دی او دا پۀ 3 کشر کچونو کښې وېشلی شوی دی چې ورته ننوتنه 1 (Entry 1)، ننوتنه 2 (Entry 2)، او ننوتنه 3 (Entry 3) وېئلی شي. که تاسو انګليسي زده کړو کښې نوي ياست نو تاسو به د ننوتني 1 څخه پيل وکړئ. د ننوتني کچ پسې بيا کچ 1 او کچ 2 راځي. د ESOL دا 5 کچونه ټول د ژوند هنرونو (Skills for Life) ليکونه دي. Skills for Life د حکومت د هغې ستراتيژۍ برخه ده چې د کومې لۀ مخه سوادي، سميرنه او ESOL ښۀ کول غواړي.

### زۀ انګليسي چېرته زده کولی شمه؟

#### پوهنځي

پۀ پوهنځي کښې د درس ورکولو ګټې پۀ لاندې ډول دي:

- د کورسونو پۀ اړه ډېرې خوښې
- د خلکو سره د ليدلو مواقع
- شمېرندويونو (کمپيوټرونو) او کتابتونونو ته رسېدنه
- د زده کوونکو د خدمتونو (Student Services) پۀ اړه سلاکار

#### د کډوالو ټولنې

ځنې د کډوالو ټولنې د ESOL کورسونه هم چلوي. پۀ دې کښې ځنې ټولنې کېدی شي RCOs (د کډوالو د ټولنو تنظيمونه) وي کوم چې د يو هېواد يا سيمې څخه خلکو سره کار کوي او نورې کېدی چې داسې وي کومې چې د کډوالو ټولې ټولنې ته خدمتونه وړاندې کوي. دلته کښې د درس ورکولو ګټې پۀ لاندې ډول دي:

- پۀ يو داسې ځائ کښې سبق ورکولو سره ډېر خوندي محسوس کول څوک چې د کډوالو سره کار کولو تجربه لري.
- ځانګړې مشورو ته رسېدنه ممکنه ده.

#### د ژبې شخصي ښوونځي

ځنې شخصي د ژبې ښوونځي د کډوالو او پناه غوښتونکو لۀ پاره د انګليسي وړيا کورسونه هم ورکوي. د ژبې شخصي ښوونځي بيلابېل ډول وي چې ځنې لوی ښوونځي وي چې ډېرې لوئې اسانتياوې لري او ځنې نور واړۀ ښوونځي وي چې پکښې څو ځنې کورسونه وړاندې کېږي. پۀ کار دي چې تاسو پۀ يو کورس کښې شاملېدلو پۀ اړه پخلی کولو نه وړاندې د ژبې ښوونځي ته ور شئ او وګورئ چې آيا دا د تاسو لۀ پاره صحيح دی.

www.advice-resources.co.uk

Produced for advice-resources by RAGU, London Metropolitan University, July 2006. Last updated: Sep 2008.

**په انټرنیټ باندې**

د انګلیسي د ټولګو کچونو په اړه په انټرنیټ باندې خورا ډېرې سرچینې او وړیا کورسونه شته. د پرکرخه درس ویئلو فائده ګټه دا وي چې تاسو د خپلې خوښې وخت باندې او په خپلې ګړندتیا سره کار کولی شئ. ځینې کټور ویبځایونه دا دي:

- www.bbc.co.uk/skillswise
- www.bbc.co.uk/worldservice/learningenglish
- www.learnenglish.org.uk
- http://a4esl.org/
- www.uefap.com

تاسو انټرنیټ ته په خپل ځائي کتابتون کښې یا د یو پرانیستي رسېدنې د ICT د مرکز د لارې رسېدنه تر لاسه کولی شئ. دا مرکزونه په ټولنه کښې ځائې پر ځائې کړې شوې دي، لکه څنګه چې د لویانو لۀ پاره د زده کړې په مرکز کښې یا د ټولنې په تنظیم کښې. د پرانیستئې رسېدنې د ICT دوه لوی مرکزونه دا دي: UK Online مرکزونه او learndirect مرکزونه. ځنې مرکزونه دواړه کېدی شي.

**UK Online مرکزونه** د ICT هغه اسانتیاوې ورکوي کومو ته چې تاسو اړتیا لرئ او د کمپیوټر او انټرنیټ پۀکار کښې راوستنو په اړه مرسته او ملاتړ هم ورکوي. تاسو کولی شئ چې:

- کمپیوټرونه (شمېرندویونه) پۀ کار کښې راولئ
- برېښنالیک وکړئ
- په انټرنیټ کښې وګرزئ را وګرزئ
- د څکلو' لۀ پاره لنډ کورس واخلئ

د دې معلومولو لۀ پاره چې د تاسو ځائي د UK Online مرکز چېرته دی، تاسو کولی شئ د خپل ځائي کتابتون څخه تپوس کولی شئ، په 1234 77 0800 باندې ټېلیفون کولی شئ یا په دې ویبځي باندې کتلی شئ http://nextstep.direct.gov.uk/. ځنې مرکزونه په نورو ژبو کښې هم ملاتړ ورکوي خو په دې اړه به تاسو له پۀ کار وي چې خپل ځائي مرکز سره خبرې وکړئ.

**learndirect مرکزونه** کمپیوټرونو او پرکرخه کورسونو چې پکښې د انګلیسي ژبې کورسونه هم شامل دي ته رسېدنه وړاندې کوي. د خپل نږدې د learndirect مرکز د معلومولو لۀ پاره پۀ دې ځایلیک باندې د دوی ویبځای وګورئ www.learndirect.co.uk
learndirect د کورسونو یوه پراخه تنوع لرې او دوی به د تاسو ژبه و تاکي چې دا معلومه کړي چې تاسو لۀ څۀ د ټولو ښۀ دې. د ESOL لوی کورسونو ته ELLIS ویئلی شي او دا پۀ بېلا بېلو ژبو کښې مرسته هم لري. Learndirect د داسې کسانو لۀ پاره 'انګلیسي ته ښۀ راغلاست' کورس هم وړاندې کوي څوک چې دې ژبې کښې خورا نوي وي.

**زۀ د انګلیسي ژبې یو کورس څنګه موندلی شمه؟**

د انګلیسي ژبې یو کورس موندلو لۀ پاره تاسو کولی شئ:

- خپل One Stop Service کښې یا پۀ بل د کډوالو اژانس کښې د یو سلاکار سره خبرې وکړئ
- خپل ځائي پوهنځي ته لاړ شئ او لۀ دوی څخه د دوی د کورسونو پۀ اړه تفصیلات واخلئ
- د learndirect سره پۀ 900 100 0800 دې لمبر باندې تړاؤ ونیسئ یا د دوی ویبځي ته ولاړ شئ www.direct.gov.uk/careersadvice

د انګلیسي یو کورس پیل کولو نه وړاندې تاسو نه به یوه لنډه ازموینه واخیستلی شي چې دا معلوم کړی شي چې تاسو پۀ کوم کچ کښې ولاړ یاست. که تاسو یو کچ کښې برېیالي شوي یاست نو تاسو به مخکښنېي کچ ته ولاړ شئ. که د تاسو د کچ ټولګي ډک وي نو د تاسو نوم به د انتظار پر لسټ باندې کېښودلی شي.

**زۀ پۀ کورس کښې څنګه شامل شم ؟**

کله چې تاسو د کورس لۀ پاره شاملیګی یا ثبتیرئ نو کېدی شي چې تاسو نه وغوښتلی شي چې **خپل د مهاجرت دریځ ثابتولو** پۀ اړه خپل **لاسوندونه ورته څرګند** کړئ. دا د Home Office لۀ اړخه یا د ARC لۀ اړخه یو لیک کېدلی شي. که تاسو **د پناه غوښتنې ملاتړ یا ښېګړې تر لاسه کوئ** نو تاسو ته پۀ کار وي چې پۀ دې لړ کښې هم **ثبوت وړاندې کړئ**.

www.advice-resources.co.uk

## یو کورس باندې به څومره خرڅه راشي؟

د 2007/08 میلادي کال نه راهیسې هغه کډوال چې وزګار وي یا د عاید پر بنسټ باندې بنېګړې تر لاسه کوي به پهٔ دوامداره توګه سره وړیا ESOL تر لاسه کړی شي.

خو بیا هم، که تاسو یو **پناه غوښتونکی کس** یئ نو تاسو به **د ESOL وړیا** ټولګیو (classes) لهٔ یوازې هغه مهال **وړ وګرزئ** کله چې **د تاسو د پناه غوښتنې لهٔ پاره دعوې باندې شپږ میاشتې تېرې شي**. تاسو له به پهٔ کار وي چې د خپلې دعوې یا غوښتنې پهٔ اړه د پرېکړې پهٔ انتظار کښې وئ. که چېرې د تاسو پناه غوښتنه رد کړئې شوئې وي او د NASS څخه د 'برخه لمبر 4' ملاتړ تر لاسه کوئ، پهٔ دې چې تاسو خپل هېواد ته بېرته ستنېدو جوګه نهٔ یئ، نو پهٔ داسې حال کښې هم تاسو د ESOL کورسونه وړیا تر لاسه کولی شئ.

که تاسو یو داسې **پناه غوښتونکی وګړی** یاست چې عمر مو **د 16 او 18 کلونو** تر مینځ وي نو بیا تاسو **د ESOL کورسونه پهٔ وړیا توګه سره تر لاسه کولی شئ** که چېرې تاسو د NASS څخه ملاتړ تر لاسه کوئ، او یا یو داسې کوچنی یئ چې درسره څوک نهٔ شته او پناه غوښتنې لهٔ پاره هڅه کوئ او د ټولنیز خدمتونو تر پاملرنې لاندې یئ. که تاسو پهٔ داسې مهال کښې 19 کلن و ګرزئ چې تاسو پهٔ یو کورس کښې بوخت وئ نو تاسو د هغهٔ کورس تر بشپړه کېدلو پورې زده کړې ته دوام ورکولی شئ. که تاسو د یو کورس لهٔ پاره د انتظار پهٔ لسټ کښې یئ او د ځای موندلو نه وړاندې تاسو 19 کلن و ګرزئ نو بیا هم تاسو هغه کورس پهٔ وړیا توګه سره وېئلی شئ.

د انګلیسي د کورسونو بیې پهٔ بېلابېلو پوهنځیونو کښې بېلې بېلې وي او د فیس په هغه نرخ پورې به اړه ولري کوم چې تاسو به ورکوئ. د کډوالو څخه به د برتانیې د کورني فیس ټیټه بیه اخیستلی شي خو د پناه غوښتونکو وګړو څخه د باندېنیو لهٔ پاره ټاکلئې شوئې د فیس لوړه بیه اخیستل کېدی شي (که څهٔ هم هر پوهنځی پهٔ دې لړ کښې خپل اختیارات لري).

## زه به یو کورس څنګه غوره کړم؟

که تاسو پهٔ داسې سیمه کښې استوګنه کوئ چېرته چې د ESOL کورسونو یو پراخ انتخاب موجود وي نو تاسو ته پهٔ کار دي چې پهٔ احتیاط سره فکر وکړئ د هغهٔ کورس پهٔ اړه کوم چې تاسو غواړئ. که ممکن وي نو تاسو ته پهٔ کار دي چې پهٔ دې باندې د یو سلاکار سره خبرې اترې پرې وکړئ. دا مهمه خبره ده چې تاسو فکر وکړئ چې تاسو لهٔ پاره څهٔ ټولو نه ښهٔ دي او دا چې تاسو پهٔ څهٔ ډول سره اوسېږئ.

- آیا تاسو د ESOL داسې کورس غواړئ کوم چې د بل یو مضمون سره ګډ وي؟
- آیا تاسو د ژبې پهٔ یوې سیمه باندې مرتکز کېدل غواړئ؟
- آیا تاسو داسې کورس غواړئ کوم چې د یو مخصوص مسلک لهٔ پاره مرتکز شوی وي؟
- د ورځې پهٔ کوم وخت کښې تاسو درس وئېل غواړئ؟

## زهٔ انګلیسي د ټولګي کوټې نه بهر څنګه زده کولی شمه؟

که تاسو غواړئ چې انګلیسي زده کړئ نو بیا تاسو ته پهٔ کار دي چې د ټولګي کوټې نه بهر هم هغه هومره ډېر کار وکړئ څومره چې تاسو د ټولګي پهٔ کوټې کښې د ننه کوئ. کله هم چې تاسو کولی شئ نو د انګلیسي روزنه کوئ او د دې سره به تاسو خورا ژر ښهٔ والی راولئ. که تاسو ملګري هم هغه ژبه وائي کومه چې تاسو وایئ، نو د هغوی سره موافقه وکړئ چې انګلیسي به وایو، که څهٔ هم دا پهٔ ټوله ورځ کښې یوازې یو ساعت هم وي.

### تیلیویزیون کتنه

تاسو به دا وګورئ چې د تیلیویزیون بېلابېل پروګرامونو د کتلو سره به تاسو د خپلې انګلیسي ژبې د ښهٔ کولو کښې ډېره مرسته تر لاسه شي. د پېل کوولو لهٔ پاره به د **کوچنیانو پروګرامونو** کتل ډېر ښهٔ وي که چېرې تاسو پهٔ انګلیسي کښې بېخي نوي یاست، پهٔ دې چې د **دغو پروګرامونو ژبه ساده وي** او پهٔ دې کښې هم هغه ټکي بیا بیا راځي. **نوي پروګرامونه** هم ډېر مفید وي پهٔ دې چې **هغه بیا بیا چلولی شي** او تاسو پهٔ برتانئې کښې د ژوند پهٔ اړه هم معلومات تر لاسه کولی شئ. که تاسو پهٔ خپل تیلیویزیون کښې 'teletext' لرئ نو تاسو کولی شئ چې د ځنې پروګرامونو سره د 888 باندې ټک وهلو سره پهٔ پرده باندې خبرې پهٔ لیکلي شوئې بڼه کښې هم تر لاسه کولی شئ. که چېرې تاسو دیجیټل تیلیویزیون لرئ نو تاسو له به پهٔ کار وي چې د سیټ اپ مینو څخه 'واړهٔ سرټکي' (subtitles) خوښ کړئ او بیا د هدایاتو سره سم پرې کار وکړئ. تاسو د تیلیویزیون پروګرامونه پهٔ ویډیو باندې ریکارډ کولی شئ چې بیا ئې وروسته بیا وګورئ.

www.advice-resources.co.uk

## راديو اورېدنه

د انګليسي د زده کولو لۀ پاره راديو اورېدنه يو بله ډېره ښه لار ده. کله هم چې تاسو کولی شئ نو راديو لګوئ. پۀ پېل کښې کېدی شي چې تاسو داسې محسوس کړئ چې تاسو پۀ ډېر څۀ نۀ پوهېږئ خو ورو ورو به تاسو وګورئ چې تاسو نور او نور ډېر پرې پوهېږئ. **ځائي راډيو** سټيشن اورېدني سره به تاسو ته دا مرسته تر لاس شي چې تاسو به **د ژبې ځائي بڼه زده کړی شئ** او د دې سره پر څنګ تاسو به خبر اوسئ چې د تاسو پۀ سيمه کښې څۀ پېښېږي. کېدی شي چې تاسو ځان لۀ پاره دا ګټور و مومئ چې پۀ راديو باندې موضوعګانې ريکارډ کړئ او وروسته ئې بيا واورئ.

## لوستنه

د انګليسي روزنې لۀ پاره او خپله ټکيزېرمه (vocabulary) ډېرولو لۀ پاره د ورځپانو، مجلو او کتابونو لوستنه يوه ډېره ښه لار ده. ډېر ځنې ځائي ورځپاڼې وړيا تر لاسه کېدلی شي. ملي ورځپاڼې پۀ دوه ډول کښې راځي: پراخو پاڼو واله او تيبلايود. پراخو پاڼو واله (لکه څنګه چې The Times او The Guardian) پۀ رسمي او صحيح انګليسي کښې ليکل کيږي او د سياست او اقتصاد پۀ اړه ډېر خبرونه لري. تيبلايودونه (لکه څنګه چې The Sun او The Daily Express) پۀ ورځنۍ او د عامو خبرو اترو پۀ انګليسي کښې ليکل کيږي او د خوند او لوبو پۀ اړه ډېر خبرونه لري.

## کتابتون ته تلنه

د لوستلو لۀ پاره د تاسو ځائي کتابتون يو ښۀ ځائ دی. کتابتون کښې ور ګډېدل **وړيا دي** او تاسو لۀ پاره کتابونه پۀ پور اخيستل يا انټرنيټ پۀ کار کښې راوستلو لۀ پاره هېڅ پيسې هم نۀ دي ورکول. کېدی شي چې د تاسو کتابتون **د ټولنې پۀ څو ځينو ژبو** کښې کتابونه ولري. تاسو لۀ پاره کېدی شي چې د نورو شيانو پر پور اخيستلو لۀ پاره پيسې ورکول پۀ کار وي لکه څنګه چې ويډيوګانې يا DVDs او دې نه پر څنګ کېدی شي چې د کمپيوټر څخه چاپ کولو پۀ اړه هم تاسو پيسې ورکړئ. کتابتون کښې د ګډېدلو لۀ پاره به تاسو ته پۀ کار وي چې د پېژندنې 1 يا 2 فارمونه واخلئ چې د تاسو ځايليک هم پکښې ليکلی شوی وي، لکه څنګه چې د Home Office څخه ليک، د استوګنځي پۀ اړه ټرون يا د تاسو د GP لۀ اړخه ليک.

## رضاکارانه کار کوونه

رضاکارانه کار کوونه (volunteering) د انګليسي ژبې د زده کړې او روزنې لۀ پاره يوه خورا ډېره ښه لار ده. د دې سره پر څنګ دا تاسو ته د بوخت اوسېدلو، نوي هنرونو زده کولو او خپلې ځائي ټولنې کښې خپله ونډه درلودلو پۀ اړه مواقع درکوي. پۀ دې اړه تاسو د دې لاربښود د ٰرضاکارانه کار کوونېٰ پۀ برخه کښې نور معلومات لوستلی شئ.

## سلاګري

سلاګري (mentoring) دې ته وائي چې کله تاسو د يو بل کس سره جوړه کړی شئ، کوم چې د تاسو سلاګر (mentor) وي، څوک چې تاسو لۀ پاره د برتانوي ژوند پۀ اړه د لارښودونکي پۀ توګه کار کوي. تاسو پر بېلابېلو مطالبو باندې خبرې کولی شئ يا د تاسو سلاګر د تاسو سره پر ځانګړيو مطالبو کښې مرسته کولو لۀ پاره تاسو سره شي. د هېڅ هم ځائي پروژو پۀ اړه د خپل ځائي One Stop Service څخه پوښتنه وکړئ.

The Time Together سکيم د کېدوالو د سلاګرۍ يو ملي سکيم دی کوم چې د Timebank خېريه موسسې لۀ اړخه چلولی شي. پۀ دې سکيم کښې د برخه اخيستونکي پۀ توګه به تاسو د يو روزل شوي رضاکار سلاګر سره د 1 کال پورې جوړه کړی شئ. پۀ ټوله برتانيه کښې د Time Together پروژې شته. د نورو معلوماتو لۀ پاره دې ويبځي ته لاړ شئ: www.timetogether.org.uk.

www.advice-resources.co.uk

ADVICE RESOURCES



# زده کړه

## د کډوالو او پناه غوښتونکو لهٔ پاره لارښود

### پهٔ انګلېنډ کښې د زده کړې نظام څهٔ ډول دی؟

پهٔ انګلېنډ کښې د زده کړې نظام کېدی شي چې تاسو د اصلي هېواد څخه ډېر توپير ولري. د لويانو لهٔ پاره زده کړې پهٔ لويه توګه باندې پهٔ پوهنځيو او پوهنتونونو کښې ور کېدلی شي. تاسو د بېلابېلو وړتوبونو پهٔ اړه زده کړې تر لاسه کولی شئ. پهٔ کوم ځائ کښې به تاسو لوستې تر لاسه کوئ، دا پر دې پورې به تکيه ولري چې تاسو لهٔ پاره کوم کورس خورا ښهٔ دی. پهٔ پوهنتون کښې لوړې زده کړې تر لاسه کول يو ډېر اوچت مقام ګڼلی شي خو اوس پهٔ انګلېنډ کښې ډېر ځنې د لوړو زده کړو کورسونه پهٔ پوهنځيو کښې ور کول کېږي. تاسو ته پهٔ کار دي چې د کورس د قسم، د وړتوب کچ، پهٔ دې لړ کښې ممکنه خرڅو، د شته ملاتړ او دا چې دغه به د تاسو د راتلونکي پهٔ پلان کښې څنګه ځای ونيسي پهٔ اړه فکر وکړئ.

د زده کړو د نظام پهٔ اړه، چې پکښې د بېلابېلو وړتوبونو پهٔ اړه تفصيلات هم پکښې شامل دي، مفيد معلومات د دې ويبځي نه تر لاسه کېدلی شي:

- [www.direct.gov.uk/en/EducationAndLearning](http://www.direct.gov.uk/en/EducationAndLearning)
- [www.qca.org.uk](http://www.qca.org.uk)

تاسو دې ته وړتيا لري چې هېڅ يو پوړ کښې هېڅ يو کورس و لولي (و وائي)، تر څو چې تاسو د دې جوګه شئ چې پهٔ کورس کښې د ننه کېدلو (داخلېدلو) پهٔ اړه غوښتنې بشپړه کړئ شئ او دا چې د کورس فيس ور کولی شئ.

### نور وړاندې زده کړه څهٔ ته وائي؟

**نور وړاندې زده کړه** (Further education) هغه زده کړه کومه چې د 16 کلونو نه وروسته وي، خو **د ډګري د کچ نه لاندې** وي. د نور وړاندې زده کړو مقصد دا دی چې **د کار يا د راتلونکيو زده کړو لهٔ پاره خلکو روزنه** وکړي. پهٔ دې کښې شتون کورسونه لچک لرونکي او بېلابېل دي. د نور وړاندې زده کړو پهٔ پوهنځيو کښې ځنې د لوړو زده کړو کورسونه هم ورکولی شي.

### د نور وړاندې زده کړو کورسونو باندې څومره لګښت راځي؟

د نور وړاندې زده کړو **ډېر کورسونه** د هغو کډوالو لهٔ پاره **وړيا** دي څوک چې **ښېګړې تر لاسه کوي**. تاسو له به پهٔ کار وي چې د شامېليدو پر مهال ورته دا ثبوت څرګند کړی چې تاسو ښېګړې تر لاسه کوئ. د نورو لهٔ پاره، زياتره د لوړو زده کړو د کچ کورسونه، تاسو ته کېدی شي چې فيس ورکول وي. کډوال د کورني لړ فيس شرح ته وړتيا لري.

د 2007/08 ميلادي کال څخه راهيسې، پناه غوښتونکي (19+ کلني) د هغو نور وړاندې زده کړو لهٔ پاره کوم چې د دولت لهٔ اړخه بسپنه کېږي وړ نهٔ ګرزي تر څو چې هغوی د خپل د پناه غوښتنې دعوې څخه وروسته تر شپږ مياشتو پورې پهٔ انګلېنډ کښې وي (او لا بيا هم د خپلې دعوې يا غوښتنې پهٔ اړه د پرېکړې پهٔ انتظار کښې وي) . د دې مطلب دا دی چې د شپږو مياشتو بشپړه کېدو نه وړاندې به هغوی څخه د وړاندې زده کړو کورسونو لهٔ پاره د باندېنيو (بهرنيو) لهٔ پاره د ټاکل شوو فيسونو لوړه بيه اخيستل کيږي. ځينې پوهنځي کېدی شي دا فيصله وکړي چې د برتانيي د کورنيو زده کونکو لهٔ پاره ټاکلئې شوئې د فيسونو ټيټه بيه ور څخه واخلي، ځکه چې دوی داسې اختيارات لري.

د پناه غوښتونکو لهٔ پاره د کورسونو د بيو (خرڅ) پهٔ اړه د نورو معلوماتو لهٔ پاره د دې لارښود ٘د انګليسي زده کړهٔ برخه کښې د ٘يو کورس باندې به څومره خرڅه راشي؟ٔ لاندې وګورئ.

www.advice-resources.co.uk

## د نور ورانديې زده کړې لهٔ پاره څهٔ ډول مالي مرستې شته؟

د پوهنځيو لهٔ اړخه **د زده کوونکو د ملاتړ بسپنې (Learners support funds)** ور کولی شي لهٔ دې د پاره چې زده کړو د خرڅو په اړه (لکه څنګه چې ټګ راټګ يا کتابونه) مرسته ور کړی شي. دې بسپنو ته هغه پناه غوښتونکي ورتيا لري څوک چې د NASS لهٔ اړخه ملاتړ تر لاسه کوي او د 16 نه تر 18 کلونو د عمر وي. هغه پناه غوښتونکي چې 19 کلن وي يا د دې نه ډېر عمر وي دې ته ورتيا نهٔ لري.

که تاسو د کډوال درېځ لرئ او 16 کلن ياست يا د دې نه د ډېر عمر ياست نو تاسو هم د زده کوونکو د ملاتړ بسپنې ته ورتيا لرئ. که تاسو ته د کډوال درېځ نهٔ وو درکړی شوی خو تاسو ته په برتانيې کښې د پاتې کېدلو اجازه در کړئې شوئې وه، نو بيا تاسو له پهٔ کار دي چې په برتانئې کښې مو 3 کاله شوي وي او د هغې وروسته بيا تاسو د زده کوونکو د ملاتړ بسپنې ته ورتيا لرلی شئ. دا د 16–18 کلن کسانو باندې نهٔ عملی کېږي، څوک چې دا د 3 کلونو د اوسېدلو شرط ته اړتيا نهٔ لري.

تاسو کېدی شي چې د زده کړو د ساتلو الاونس (Education Maintenance Allowance (EMA)) ته هم ورتيا ولرئ. EMA يو حکومتي سکيم دی د کوم لهٔ مخې چې د 16–19 کلونو تر مينځ زده کوونکي دې ته ورتيا لري چې پوهنځي يا ښوونځي ته د تللو پهٔ لړ کښې د اوونۍ پهٔ سر د 10 برتانوي پونډونو نه تر 30 برتانوي پونډونو پهٔ مينځ کښې پيسې تر لاسه کړي. دې ته ورتيا د تاسو د کورنۍ راتلنې (income) پورې اړه لري. دا يوازې هغو کسانو لهٔ پاره شته څوک چې د کډوال درېځ لري، انساني بنسټ لاندې ژغورنه لري يا ILR لري. که تاسو ILR لرئ نو بايد چې تاسو پهٔ برتانئې کښې د 3 کلونو پورې 'عمومي اوسېدونکی' په توګه پاتې شوی وئ.

## د نور ورانديې زده کړو لهٔ پاره د ننوتنې پهٔ اړه څهٔ غوښتنې وي؟

ډېر کورسونه داسې دي چې هغه د ورننوتنې پهٔ اړه ځانګړې غوښتنې نهٔ لري. که داسې څهٔ هم غوښتنې وي نو **د پوهنځي پهٔ پراسپيکټس (prospectus) کښې به تاسو ته د دې پهٔ اړه و ښودل شي.** تل د کورس ښودونکي سره خبرې وکړئ که چېرې تاسو داسې محسوس کوئ چې تاسو د دې جوګه ياست چې دا کورس وکړی شئ خو پهٔ دې لړ کښې تاسو د ورننوتنې لهٔ پاره رسمي غوښتنې نهٔ لرئ، پهٔ دې چې کېدی شي دوی وکړی شي چې تاسو لهٔ پاره يوه لنډه ازموينه جوړه کړي.

**د ښودنو پيروي کولو لهٔ پاره** به تاسو لهٔ پاره دې ته اړتيا وي چې د تاسو **انګليسي کافي حد پورې ښهٔ** وي. که د تاسو انګليسي کښې ښهٔ والي راوستنې ته اړتيا وي نو پهٔ دې لړ کښې د ESOL خورا ډېر کورسونه شته. داسې کورسونه هم زياتره شته چې هغه د ESOL سره ګډ کړي شوي وي، يا بيا د تاسو پوهنځی د انګليسي پهٔ اړه تاسو ته زياتې مرستې در کولی شي.

## د نور ورانديې زده کړو کورسونه زهٔ څنګه موندلی شمهٔ؟

- خپل ځائي پوهنځي ته ولاړ شئ – هلته کښې پراسپيکټس را واخلئ او د زده کوونکو خدمتونو سره خبرې وکړئ
- خپل ځائي کتابتون ته ولاړ شئ – پهٔ هغهٔ کښې پهٔ کار دي چې د پوهنځيونو پراسپيکټسونه وي
- د پوهنځي ويبځای ته ولاړ شئ او هلته وګورئ
- نور ويبځايونه پهٔ کار کښې راولئ، لکه څنګه چې: www.hotcourses.com/community/homePage.jsp يا www.direct.gov.uk/careersadvice

## د نور ورانديې زده کړو کورس زهٔ څنګه خوښولی شمهٔ؟

د ځان لهٔ پاره صحيح کورس خوښول تاسو لهٔ پاره مهم دي، پهٔ ځانګړې توګه سره هلته که چېرې پهٔ دې باندې خرڅه کېږي، هم لهٔ دې کبله **د مشوره ورکوونکي سره خبرې وکړئ.** کورسونه کېدی شي چې تاسو ته د يو ارزښت څرګند شي، خو که يو کورس رسمي توګه سره منلی کورس وي نو هغه به تاسو ته پهٔ راتلونکي کښې ډېر ارزښتناک و ګرځي.

د تاسو د خوښې پر بسنټ باندې، تاسو کېدی شي چې وکړی شی چې د دغو تر مينځ يا د دغو د ګډون سره خپل کورسونه خوښ کړئ:

- مسلکي کورس – تاسو لهٔ پاره ډېر ښهٔ دي که تاسو غواړئ چې پهٔ کار کښې راوستونکي هنرونه زده کړی او د لاس لاندې کارونه کول غواړئ.
- د زده کړو (تعليمي) کورس – تاسو لهٔ پاره ډېر ښهٔ دي که تاسو غواړئ چې بحثونو او نظريو باندې تحليلي او د څېړنې کار وکړئ.

www.advice-resources.co.uk

د زده کړو یا مسلکي کورس پهٔ اړه د تاسو خوښه به د دې سره **هم تړاؤ ولري چې تاسو د خپلو زده کړو نه وروستو څهٔ کولو فکر لری.** لهٔ بده مرغه، داسې کورسونه د کوم پهٔ ترڅ کښې چې کار تر لاسه کېدلی شي، هغه کېدی شي چې هغو پناه غوښتونکو لهٔ پاره شتون نهٔ وي څوک چې د کار لهٔ پاره اجازه نهٔ لري. که تاسو پهٔ دې کښې شامل یاست، نو د پوهنځي سره خبرې وکړئ. داسې کورسونه چې هغه مسلکي ښکاري خو د ESOL سره ګډ کړي شوي وي کېدی شي هغه تاسو لهٔ پاره شته وي.

کېدی شي چې تاسو داسې محسوس کړی چې نهٔ خو مسلکي او نهٔ هم د زدکړې (تعلیمي) کورس لهٔ تاسو لهٔ پاره صحیح دی. تاسو داسې کورس خوښولی شی کوم چې یو ځانګړي هنر ته وده ورکوي، لکه څنګه چې ICT، یا د ژبنۍ ښودنې وړتوبونه. بله خوښه دا کېدی شي چې د لوړو زده کړو لهٔ پاره چمتو کېدلو پهٔ لړ کښې کورس واخلی. پهٔ دې کښې د چمتو کوونې ځانګړي کورسونه، د Access کورسونه او د تعلیمي انګلیسي کورسونه شامل دي.

## د نور وړاندې زده کړو کورس لهٔ پاره زهٔ څنګه غوښتنلیک ورکولی شمه؟

تاسو ته به پهٔ کار وي چې **پوهنځي ته نېغ پهٔ نېغه** غوښتنلیک ورکړی. د غوښتنلیکونو ورکولو لهٔ پاره لومړنۍ موده د جنورې میاشتې څخه تر ستمبر میاشتې پورې ده، خو ځنې کورسونه کېدی شي چې پهٔ هری دوری کښې بیا بیا وړاندې کېږي نو هغو لهٔ پاره تاسو هر وخت غوښتنلیک ورکولی شی. کله چې تاسو د شامل کېدلو لهٔ پاره پوهنځي ته ځئ نو تاسو ته پهٔ کار دي چې دا ځان سره یوسی:

- ARC یا د Home Office لهٔ اړخه نور لاسوندونه
- هغه لیک چې د ګټو یا د NASS ملاتړ اخیستلو پهٔ اړه څرګندوونه کوي

## پوهنځی به څهٔ ډول ملاتړ راکوي؟

کله چې تاسو پوهنځي کښې شامل شی، که تاسو ژوند ستونزناک مومی، نو د خپل د کورس ښودونکي سره خبرې وکړئ یا بیا **د زده کوونکو د خدمتونو** سره. کېدی شي چې پوهنځی د انګلیسي پهٔ اړه، د زده کړو د هنرونو په اړه یا د ICT پهٔ اړه زیاتې ټولګي وړاندې کوي. که د تاسو ستونزه ډېره ځانګړې وي، نو کېدی شي چې پوهنځي کښې **د زده کوونکو د هوسائینې چارواکی** وي او تاسو کولی شی چې د خپلې ستونزې پهٔ اړه د هغهٔ سره خبرې وکړی

## لوړه زده کړه څهٔ ته وائي؟

**لوړه زده کړه** (Higher education) د داسې **پرمخ تللي کچو کورسونو** نه جوړېږي کوم چې پهٔ پوهنتونونو او د لوړو زده کړو، فنون او کرکیلې او د نور وړاندې زده کړو پهٔ پوهنځیو کښې هم وړاندې کېږي. دا کورسونه د 1 نه تر 6 کلونو موده کښې بشپړه کېږي، کوم چې پدی تکیه لري چې مضمون او وړتوب څهٔ دی او دا **ټیټ بکالوریوس** یا **لوړ بکالوریوس** کچو کورسونه کېدلی شي.

لوړو زده کړو کورسونه د **وړتوبونو درې غټ قسمونو** لهٔ پاره وي:

- ډپلوماګانې
- درجې (ډګریانې)
- مسلکي وړتوبونه

## لوړې زده کړې باندې څومره خرڅه راځي؟

د لوړو زده کړو خرڅې د ګډوډۍ څرګندونه کولی شي. د پوهتون لهٔ پاره **د فیس دوه شرحی** دي: 'کورنی فیس' او' بهرنی فیس' که تاسو **کډوال** یاست (یا د هغوئی ژوند مل یعني میړه یا میرمن او یا ماشوم یاست) نو تاسو دې ته وړتیا لری چې د لوړو زده کړو بشپړیز مودې او د برخیز مودې کورسونو لهٔ پاره **کورنی فیس ورکړئ**

که تاسو **پناه غوښتونکی** کس یاست نو **داسې معلومېږي** چې تاسو نه به د لوړو زده کړو د بشپړیز او برخیز مودو دواړو کورسونو لهٔ پاره **'بهرنی فیس شرح' اخیستلئ کېږي**. خو ولې دا **د** پوهنتون په واک اختیار کښی دی. ځنې کېدی شي چې د پناه غوښتونکو څخه ' کورنی فیس' واخلي او نورې کېدی شي چې یوازنې بنسټ باندې پرېکړه کوي. که تاسو د یو ځانګړي کورس پهٔ اړه پرېکړه کړئې وي نو د پوهنتون سره خبرې وکړئ چې تاسو ته معلومه شي پهٔ دې لړ کښې څهٔ باندې موافقه راتللی شي.

د ستمبر 2008 نه را هیسې، پهٔ انګلېنډ کښې پوهنتونونه او پوهنځي د نویو بشپړي مودې زده کوونکو څخه د یو کال لهٔ پاره تر £3,145 برتانوي پونډونو پورې 'کورنی فیس' اخیستلی شي. 'بهرني فیسونه' د دې د غبرګ نه هم ډېر کېدلی شي.

## د لوړې زده کړې لهٔ پاره څهٔ ډول مالي مرستې شته؟

که تاسو د **کډوال دریځ** لرئ نو تاسو د لومړنۍ درجو لهٔ پاره، د لوړ بکالوریوس لومړنۍ د ښودونکي روزنو او د نورو ځانګړیو پهٔ ګوته شوي کورسونو' (لکه څنګه چې HNC، HND او بنسټي درجې) لهٔ پاره د **زده کوونکي ملاتړ (student support)** ته **وړتیا لرئ**. که تاسو ILR (**د کډوال دریځ نه بغیر**)، ELR، ELE، HP یا DL لرئ نو بیا هم تاسو د زده کوونکي ملاتړ لهٔ پاره **وړتیا** لرئ خو تاسو لهٔ به پهٔ کار وي چې پهٔ برتانئې کښې د **درې کلونو پورې** یا د دې نه ډېر د '**عام استوګن**' پهٔ توګه اوسېدلي وی. دې کښې هغه هم شامل دي چې د پاتې کېدنې د نورې اجازې د غوښتنلیک پهٔ اړه د پرېکړې پهٔ انتظار کښې وې. **پناه غوښتونکي** د دغو فیسونو یا هېڅ نورو خرڅو لهٔ پاره قانوني مالي ملاتړ ته **وړتیا نهٔ لري**، که دوی پهٔ برتانئې کښې تر څومره هم اوږدې مودې پورې پاتې شوي وي.

د زده کوونکي ملاتړ پهٔ ترځ کښې رقم چې تاسو تر لاسه کوی به پهٔ غټه توګه سره د تاسو (او د تاسو د کورنۍ) د راتلني (income) سره تړاؤ ولري. د دې پهٔ اړه نور معلومات لاندینې ویبپاڼو نه تر لاسه کولی شئ:

- www.studentfinancedirect.co.uk
- www.scholarship-search.org.uk
- www.hero.ac.uk

که تاسو پناه غوښتونکی کس یا کډوال یاست او د زده کوونکي د ملاتړ لهٔ پاره وړتیا نهٔ لرئ نو تاسو لهٔ پاره به دا ډېره مشکله شي چې د لوړو زده کړو لهٔ پاره بسپنې تر لاسه کړی. د زده کړو ترستونه او خېریه اداري لږ محدودې بسپنې لري. د کډوال زده کوونکو د مرستې کونسل (CARA) یو ډېر ګټور لاسي کتاب لري، چې نوم ئې 'Higher Education Pathways' دی په کوم کښې چې د بسپنو پهٔ اړه خورا ډېر معلومات ور کړي شوي دي. دا د کډوالو او پناه غوښتونکو لهٔ پاره وړیا دی. CARA ته پهٔ 020 7021 0880 باندې ټیلیفون وکړئ یا د دوی ویبځې باندې وګورئ:

www.academic-refugees.org

## که زما د مهاجرت دریځ د کورس پهٔ مینځ کښې بدل شي نو بیا څهٔ کیږي؟

که تاسو پناه غوښتونکی کس یاست او پهٔ داسې وخت کښې د خپلې د پناه غوښتنې دعوې پهٔ اړه مثبته پرېکړه تر لاسه کړی چې تاسو پهٔ کورس کښې یاست نو تاسو له پهٔ کار دي چې **پوهنتون ته سملاسي خبر ورکړی**. تاسو د '**کورنې فیس**' **او د زده کوونکي ملاتړ** لهٔ پاره **بیا ټاکلی** کېدلی شی. د څهٔ هم مثبته پرېکړې لهٔ پاره، تاسو به دې ته وړتیا ولرئ چې مخکښې بیا کله هم فیسونه ورکوی نو تاسو به 'کورنې فیس' ورکوی. د زده کوونکي د ملاتړ لهٔ پاره د تاسو وړتیا به د هغې پرېکړې سره تړاؤ ولري کومه به چې تاسو د Home Office نه تر لاسه کړی.

که تاسو د **کډوال دریځ (د ILR سره یا د دې نه بغیر)** نو تاسو به دې ته وړتیا ولرئ چې راتلونکیو کلونو فیسونو ورکولو کښې مرسته تر لاسه کړی شی. تاسو به د اوسني کال فیسونه ورکولو کښې هم مرسته تر لاسه کولو ته وړتیا ولرئ، که تاسو ته دا دریځ د کورس پیل کېدلو د رومبی ورځ نه پهٔ 3 میاشتو کښې د ننه د ننه درکړی شوی وو. تاسو به د خپل د مهاجرت پهٔ دریځ کښې د بدلون نه وروسته د رومبني خلوریز ځخه د استوګنې پهٔاړه د خرڅو لهٔ پاره ملاتړ تر لاسه کولو لهٔ پاره وړتیا و لری.

که تاسو **ELR، ELE، HP، DL یا ILR (د کډوال دریځ نه بغیر)** تر لاسه کړی، نو تاسو له به پهٔ کار وي چې د زده کوونکو ملاتړ تر لاسه کوولو لهٔ پاره تاسو پهٔ برتانئې کښې د 3 کلونو پورې استوګنه کړئې وي.

## د لوړو زده کړو لهٔ پاره د ور ننوتنې پهٔ اړه څهٔ غوښتنې وي؟

د ورننوتنې غوښتنې د کورسونو او ادارو تر مینځ **پهٔ پراخه کچه بدلیږي**. تاسو د هر کورس پهٔ اړه د ورننوتنې غوښتنې د **پوهنځي یا د پوهنتون پهٔ پراسپکټس** کښې موندلی شی یا د (**Universities and Colleges Admissions Service (UCAS)**) پهٔ **ویبځي** باندې.

د ورننوتنې لهٔ پاره غوښتنې کېدی شي چې پهٔ لاندیني ډول سره لسټ شوئې وي:

- پهٔ ځانګړي وړتوبونو کښې ګرېډ (د مثال پهٔ توګه A-levels)
- پهٔ ځانګړي مضمونونو کښې ګرېډ (د مثال پهٔ توګه طبعیات) یا مضموني سیمه کښې (د مثال پهٔ توګه د ښودنې فنون)

که تاسو **د برتانئې نه ورچنې نه وړتوبونه لری** کوم چې لسټ شوي نهٔ دي، نو هغه به پهٔ یوازنې بنسټ **باندې کتلی شي**. د پوهنتون یا د پوهنځي سره تړاؤ ونیسئ او ور څخه و غواړئ چې د هغهٔ کورس لهٔ پاره د ورننوتنې ښودونکي سره خبرې وکړی کوم کورس کښې

www.advice-resources.co.uk

چې تاسو شوق لرى. په ډېرو پوهنتونونه د ښهٔ لوی شویو (mature) زده کوونکو (چې 21 کلن وي یا د دې نه ډېر عمر وي) د غوښتلیککونو په اړه ډېر لچک شته.

د زده کړو لهٔ پاره پهٔ کار دي چې **تاسو انګلیسي پهٔ لوړه کچه کښي وي** خو پهٔ دې اړه هېڅ هم رسمي اړتیا نشته. د IELTS لمبرې یو داسې لاربشود دی چې ځنې پوهنتونونه ئې پهٔ کار کښې راولي. پهٔ عمومي توګه باندې 6.0 یا د دې نه پورته لمبرې غوښتلی شي. تل د ځانګړې اداري سره تړاؤ نیسئ چې وګورى هغوی د څومره لمبرو غوښتنه کوي.

## پهٔ لوړو زده کړو کښې زهٔ ځان لهٔ پاره کورس څنګه موندلی شمه؟

تاسو له پهٔ کار دي چې **د پوهنتونو پراسپکټسونه** تر لاسه کړی. دا نېغ پهٔ نېغه د پوهنتونو څخه یا د کتابتونونو څخه تر لاسه کېدی شي چې **د انټرنېټ د لارې لټون** تاسو مفید و مومی. تاسو د لانډیني ویبځي د لارې پهٔ برتانئي کښي د هېڅ یو د لوړو زده کړو اداري څخه یا د نور وړاندې زده کړو د پوهنځي څخه د هغوی پراسپکټس را غوښتلی شی:
http://www.hero.ac.uk/sites/hero/uk/universities___colleges/order_prospectus.cfm

انټرنېټ باندې نور هم بېلابېل وېځایونه شته کوم چې تاسو د لوړو زده کړو کورسونو پهٔ اړه د لټون لهٔ پاره پهٔ کار کښې راوستلی شی. پهٔ دې کښې دا شامل دي:

- www.direct.gov.uk/careersadvice
- www.hero.ac.uk
- www.hotcourses.com
- www.prospects.ac.uk
- www.ucas.com

## د لوړو زده کړو کورس زهٔ څنګه خوښ کړمه؟

د لوړو زده کړو کچه باندې د کورسونو پراخ انتخاب شته. تاسو له پهٔ کار دي چې د پرېکړې لهٔ پاره ډېر او بېلا بېل وجوهات پهٔ پام کښې ونیسی، هم لهٔ دې کبله دا مهم دي چې تاسو **د یو مشوره ورکوونکي څخه ملاتړ او لاربښوونه تر لاسه کړی**.

کله چې تاسو د خو کورسونو پهٔ اړه پرېکړه وکړی نو بیا تاسو پوهنتون یا پوهنځي ته د نورو معلوماتو تر لاسه کولو لهٔ پاره ټېلیفون کولی شی. **د ځانګي څخه د چا یو کس سره خبرې کولو** لهٔ پاره غوښتنه وکړئ چې تاسو هغوی ته خپل حالت او خپلې هیلې پهٔ تفصیل سره وړاندې کولی شی.

که ممکن وي، تاسو ته پهٔ کار دي چې پوهنځي یا پوهنتون ته ولاړ شی او پهٔ خپله وګورى چې تاسو هلته کښې څنګه محسوس کوی. زیاتره پوهنتونونه او پوهنځي **پرانیستئي ورځي** لري کله چې تاسو د خپل د خوښې د کورس پهٔ اړه د بېلا بېلو څانګو څخه کسانو سره خبرې کولی شی او د زده کوونکیو د خدمتونو سره هم خبرې کولی شی.

د دې نه پر څنګ، د خپلې پرېکړې کولو لهٔ پاره نورې هم ډېرې سرچینې شته چې تاسو ئې پهٔ کار کښې راوستلی شی. پهٔ دې کښې دا شامل دي:

- د پوهنتون وېبځایونه
- د مسلکي ستو وېبځایونه یا د مشورې کرخې
- ورځپاڼي او مسلکي مجلې
- د بېلا بېلو کورسونو د څرنګوالي د ټاکنې پهٔ اړه جدولونه (د مثال پهٔ توګه http://education.guardian.co.uk/universityguide

## د لوړو زده کړو کورس لهٔ پاره زهٔ څنګه غوښتنلیک ورکولی شمه؟

د لوړو زده کړو لهٔ پاره د غوښتنلیک لار د دې سره تړاؤ لري چې تاسو د څهٔ قسم کورس لهٔ پاره غوښتنلیک ورکول غواړی.

که تاسو غواړی چې د **بکالوریوس څخه ټیټې درجې، د بنسټي درجې، HND\HNC یا ډیپلومې** لهٔ پاره غوښتنلیک ورکول غواړی نو بیا به تاسو ته پهٔ کار وي چې د انټرنېټ په مرسته د UCAS **د لارې غوښتنلیک ورکړی**. د دې پهٔ اړه نور ډېر معلومات د دې ویبپاڼې نه تر لاسه کولی شئ: www.ucas.com.

www.advice-resources.co.uk

**د برخيز موديِ د بکالوريوس څخه د تيټې درجې يا د لوړ بکالوريوس کورس** لۀ پاره تاسو ته پۀ کار دي چې د ځانګړي کورس پۀ اړه معلومات د پوهنتون يا د پوهنځي د پراسپکټس نه تر لاسه کړی. تل دا د غوښتنليک پۀ اړه د وروستی نېټې پۀ اړه ګوری. تاسو ته به پۀ کار وي چې **هر يوې اداري ته نېغ پۀ نېغه غوښتنليک ورکړی**.

### لوړې زده کړې لۀ پاره څۀ ډول ملاتړ شته؟

زده کوونکو ته ملاتړ يا **د اداري د لارې** پۀ خپله، يا بيا د **زده کوونکو د يووالی** لۀ اړخه شته. د زده کوونکو يوالی يوه داسې ټولنه ده چې د زده کوونکو لۀ اړخه جوړه شوئې ده کومه چې د لوړو زده کړو پر مهال کښې د هغوی استاځيتوب کوي او هغوی ته ملاتړ او مشوره ورکوي. دا د پوهنځي يا د پوهنتون لۀ اړخه خپلواکه وي.

ADVICE RESOURCES



# روزنه

## د کډوالو او پناه غوښتونکو لۀ پاره لارښود

### آیا زۀ حکومتي د روزنې سکیمونو ته رسېدنه لرلی شم؟

که تاسو کډوال یاست او ښېګړې تر لاسه کوی نو تاسو د حکومت لۀ اړخه بسپنه شوي د روزنې سکیمونو ته رسېدنه لرلی شی. پناه غوښتونکي (د کار په اړه اجازه لرونکي یا نۀ لرونکي دواړه) دې ته وړتیا نۀ لري چې دغو حکومتي د روزنې سکیمونو کښې برخه واخلي. غټ سکیمونه د لویانو لۀ پاره کار پر بنسټ د زده کړه کوونه او د اپرنتسشپ دي. نور د روزنې کورسونه د کار موندنې د مکتب لۀ اړخه ملاتړ تر لاسه کوي. تاسو ته پۀ کار دي چې پۀ دې اړه دخپل ځائي د کار موندنې د مکتب څخه پوښتنه وکړی.

### New Deal څۀ شی دی؟

که تاسو کډوال یاست او د کارغوښتونکي لۀ پاره ملاتړ تر لاسه کوی نو د کارموندنې مکتب کېدی شي چې تاسو ته وړاندیز وکړي چې تاسو پۀ'New Deal' کښې برخه واخلی. New Deal یو **حکومتي پروګرام** دی چې مقصد یئ دا دی چې **خلکو سره د کار موندنې کښې ملاتړ وکړي**. تاسو به د New Deal پۀ اړه خپل ځاني سلاکار ولری څوک به چې تاسو سره کار کوي چې تاسو لۀ پاره د وړ کار موندنې پۀ اړه یو پلان جوړ کړی شي. پۀ دې کښې **د روزنې سکیم هم شامېلېدلی شي**. د بېلابېلو ټولګیو لۀ پاره څو ځنې New Deal سکیمونه شته، لکه څنګه چې یوازې مور پلار، زلمي وګړي او د 25 کلونو نه لوی خلک.

### Work Based Learning for Adults څۀ دي؟

Work Based Learning for Adults (WBLA) د کار موندنې د مکتب لۀ اړخه یو بل داسې پروګرام دی چې مقصد ئې دا دی **چې خلکو لۀ پاره کار برابر کړي**. پروګرام دا مقاصد **د روزنې او د کار د تجربې د لارې** تر لاسه کوي. WBLA پۀ غټه کښې داسې خلکو لۀ پاره دی چې د هغوی عمر د 25 کلونو نه سېوا وي او څوک چې د 6 میاشتو څخه وزګار وي، خو کډوالو ته پۀ دې پروګرام کښې ژر ور ګډېدلو لۀ پاره بلنه ور کېدلی شي. تاسو به د کار موندنې د مکتب پۀ مرسته سره ځان لۀ پاره د روزنې پلان جوړ کړی کوم کښې چې د کار پۀ اړه تجربه، د وړتوب پۀ لوري کار کوونه لکه څنګه چې NVQ، د ځانګړي کار لۀ پاره روزنه یا د دې ټولو ګډون شامېلېدلی شي.

### اپرنټسشپ څۀ دي؟

اپرنټسشپ (apprenticeship) د **کار پر بنسټ د روزنې** یو قسم دی کوم چې د هغو زلمو کسانو او لویانو لۀ پاره دی څوک چې د نویو هنرونو زده کولو کښې او د کار سره پر څنګ د وړتوبونو تر لاسه کولو کښې شوق لري. تاسو د یو کار ورکوونکي سره **کار کوی او روزنه تر لاس کوی** او پر هغۀ مهال کښې د زده کړې ورکوونکي سره **سبق هم وایئ**، لکه څنګه چې د تاسو ځائي پوهنځی. اپرنټسشپ او پرمخ تللی اپرنټسشپ د هغو کسانو لۀ پاره دي څوک چې د 16-24 کالو عمر کښې وي او پۀ عمومي توګه کښې د بشپړه کېدلو لۀ پاره د 1 نه تر 3 کلونو پورې وخت اخلي. د ورننوتنې غوښتنې لچک لرونکئ وي.

که تاسو غواړی چې یو ځانګړئ تولیدي یا کاروباري ډګر کښې کار وکړی نو بیا تاسو لۀ پاره اپرنټسشپ یوه ښه خوښه کېدلی شي. تاسو به د خپلې خوښې پۀ ډګر کښې تجربه، پوهه او هنرونه تر لاسه کړی، پۀ 2 یا 3 کچه کښې به NVQ تر لاسه کړی، یو ځانګړی هنري (Key Skills) وړتوب او یو تخنیکي بریلیک لکه څنګه چې ملي ډپلومه به هم تر لاسه کړی. تاسو ته پۀ کار دي چې د دې خبرې پۀ اړه تصدیق وکړی چې تاسو صحیح خوښه خپلوی کله هم چې تاسو د اپرنټسشپ لۀ پاره پرېکړه کوی پۀ دې چې پۀ دې کښې خورا ډېر کار کېدلی شي. د دې خبرې پخلی وکړئ چې د پرېکړه کولو نه وړاندې د سلاکار سره خبرې وکړی. تاسو پۀ دې اړه نور معلومات د دې ځای نه تر لاسه کولی شی: www.apprenticeships.org.uk.

www.advice-resources.co.uk

## آيا زۀ روزنه د خپل کار ورکوونکي لۀ اړخه تر لاسه کولی شمه؟

که تاسو کار لری نو د تاسو کار ورکوونکی کول شي چې تاسو لۀ پاره **روزنه يا د روزنې پۀ لړ کښې بسپنې ځای پر ځای کړي** او دا کېدی شي چې د تاسو لۀ پاره د تعليمي يا مسلکي وړتوب تر لاسه کولو پۀ لوري ګام ثابت شي. پۀ دې کښې د بنسټي هنرونو روزنه يا د تاسو د کار سره تړاؤ لرونکئ ځانګړې روزنې شاملېدلی شي. ډېر کار ورکوونکي د کارکوونکو د پرمختګ سره لوز لري. پۀ خلکو کښې شتمني کوونکي ('Investors in People') معيار هغو کار ورکوونکو ته ورکولی شي څوک چې د خپل کارکوونکو د روزنې او پرمختګ پۀ لړ کښې روانه ژمنه څرګندوي.

## د روزنې لۀ پاره څۀ ډول مالي مرستې شته؟

کېدی شي چې تاسو دې ته جوګه وی چې د خپلې روزنې لۀ پاره پيسې ورکولو کښې مرستې لۀ پاره **د راتلونکي د پرمختګ پور** تر لاسه کړی. دا يوازې هغو کسانو لۀ پاره شته څوک چې **ILR** لري. دا پور د 300 برتانوي پونډونو څخه تر 8000 برتانوي پونډونو پورې کېدلی شي او د دې د لارې خرڅې لکه څنګه چې د کورس فيسونه، د کورس مواد او د استوګنې خرڅې پرې کړی شي. دا د بشپړيز مودو او د برخيز مودو کورسونو لۀ پاره پۀ کار کښې راوستلی شي.

د راتلونکي د پرمختګ پور د دوو کالونو پورې د مسلکي (کار سره تړلي) زده کړې د خرڅو پرې کولو کښې مرسته ورکولی شي، يا د درې کالونو پورې که چېرې پۀ کورس کښې يو کال لۀ پاره د کار سره تړاؤ لرونکئ تجربه هم شامله وي. د تاسو زده کړه پۀ کار ده چې د کار سره تړاؤ و لري او تاسو ته پۀ کار دي چې د بل هېڅ هم تولنې لۀ اړخه مالي ملاتړ نۀ تر لاسه کوی او نۀ هم لازمي بسپنه تر لاسه کوی. د راتلونکي د پرمختګ پور د تاسو اخيستونکيو بنېګړو باندې اغېز اچولی شي هم لۀ دې کبله تاسو له پۀ کار دي چې دا پور اخيستلو نه وړاندې مشوره تر لاسه کړی. دا ياد وساتی چې د راتلونکي د پرمختګ پور د تاسو او د بانک تر مينځ يو تړون دی او تاسو ته دا ياد ساتل پۀ کار دي چې تاسو به دا بشپړ رقم بانک ته بېرته ورکوی.

تاسو د راتلونکي د پرمختګ پور پۀ اړه معلوماتي کتابګی د اوونۍ اوؤ واړه ورځو باندې 505 585 0800 لمبر ته ټېليفون کولو سره تر لاسه کولی شی. تاسو پۀ خپل ځائي د کار موندنې مکتب، پوهنځي يا د روزنې مرکز کښې هم پۀ دې اړه پوښتنه کولی شی. د دې پۀ اړه نور معلومات لاندېني ويبځي نه تر لاسه کولی شئ: : www.direct.gov.uk/cdl
.l

## آيا زۀ داسې کورس کولی شمه چې دهغۀ سره کار هم که چېرې زۀ د کار پۀ اړه اجازه نۀ لرمه؟

د **NASS** لۀ اړخه **اوسنۍ تګلاره** دا ده چې هغه پناه غوښتونکي څوک چې ملاتړ تر لاسه کوي هغوی داسې **مسلکي کورس** اخيستلی شي پۀ کوم کښې چې **بې لۀ پيسو کار کول وي**. دا کار کوونه پۀکار ده چې د کورس برخه وي او دا يو مزد لرونکی کار نۀ وي. تاسو ته دا وړانديز در کولی شي چې د خپل کورس پۀ اړه خبرولو لۀ پاره د NASS سره تړاؤ ونيسی چې هم دا ډول د تاسو د وړتياو پۀ اړه څۀ ډول ګډوډي نۀ را مينځ ته کېږي. که د تاسو کورس سره د روزنې الاؤنس هم شامل وي نو کېدی شي چې تاسو لۀ پاره د خپل موقتي ورننوتنې پۀ اړه شرائطو کښې سمون راوستلو ته اړتيا وي. تاسو ته دا هم پۀ کار دي چې تاسو NASS ته د هېڅ ډول د روزنې الاؤنس پۀ اړه هم و وايئ کوم چې تاسو اخلی پۀ دې چې دا د هغوی لۀ اړخه تر لاسه کوونکي ملاتړ باندې اغيز لرلی شي.بايد چې NASS به د تګ راتګ او خوړو پۀ اړه د هېڅ ډول مرستې پۀ اړه څۀ غوښتنې نۀ ولري.

www.advice-resources.co.uk

ADVICE RESOURCES



# رضاکارانه کار کوونه

## د کډوالو او پناه غوښتونکو لهٔ پاره لارښود

## رضاکارانه کار کوونه څهٔ ته وائي؟

رضارکاري (volunteering) مطلب دا دی چې د یوې ټولنې سره، چې زیاتره هغه خېریه یا رضاکارانه ټولنې وي، **بې لهٔ پېسو مرسته** او کار وکړی شي. رضاکارانه کار کوونه **پهٔ برتانئې کښې** د ټولو عمرونو او ورستیٔ زمکو خلکو کښې **ډېر عام** دی. د کار ورکوونکو لهٔ اړخه د دې ډېره درناوي کېږي ځوک به چې د رضاکار پهٔ توګه د کار کولو پر مهال کښې تر لاسه شوئې تجربې ته ډېر ارزښت ورکوي. ډېر ځنې کډوال او پناه غوښتونکي د خپلو ځائي د کډوالو اژانسونو لهٔ پاره، د کډوالو د ټولنې تنظیم (RCO) لهٔ پاره یا د بل ځائي رضاکارۍ ټولنې لهٔ پاره پهٔ رضاکارانه توګه سره کار کوي.

## پهٔ رضاکارانه ډول باندې کار کولو کښې څهٔ ګټې شته؟

د خونداخیستلو سره سره، رضاکارانه کار کوونې نورې یو شمیر هم ډېرې ګټې لری که تاسو کډوال یا پناه غوښتوکی یاست. د رضاکارانه کار کولو سره تاسو کولی شی چې:

- خپل د انګلیسي او تړاؤ جوړولو پهٔ لړ کښې خپل هنرونه ښهٔ کړی
- تاسو سره د نویو خلکو سره لیدلو او ملګري جوړولو کښې ستاسو مرسته کوي
- تاسو ته نوي هنرونه زده کوي او د تاسو هغو هنرونو ته وده ورکوي کوم چې تاسو وړاندې نه لری
- د تاسو پر ځان باندې باور نور ډېرېږي

د رضاکارانه کار کولو پهٔ لړ کښې **د تاسو د کار موندنې وړتوب هم ډېرېږي** پهٔ دې چې تاسو کولی شی چې:

- پهٔ برتانئې کښې د کار پهٔ اړه کلتور څخه خبر پېږیاو پهٔ برتانوي کار ځاې کښې تجربه تر لاسه کړی
- پهٔ راتلونکي کښې د کار کولو لهٔ پاره مفید ور ګرزوونې تر لاسه کړی
- ابتکار او ژمنه څرګندولی شی، کوم ته چې کار ورکوونکي ډېر پهٔ درناوي سره ګوري
- پهٔ نوي ډګر کښې تجربه تر لاسه کړی
- داسې څهٔ وکړی چې هغې ته کار ورکوونکي پهٔ ټولو ډګرونو کښې؛ که هغه شخصي وي، حکومتي وي او که رضاکارانه وي، ډېر پهٔ درناوي سره ګوري

که تاسو پناه غوښتونکی کس یاست او د کار کولو لهٔ پاره اجازه نهٔ لری نو رضاکارانه کار کول تاسو لهٔ پاره پهٔ ځانګړئې توګه سره مفید کېدلی شي. دا د **تاسو پهٔ CV** کښې هغه **تش ځای ډکولی** شي کوم چې مزد لرونکی کار نهٔ کولو لهٔ کبله رامینځ ته شوی وي. رضاکارانه کار تاسو ته پهٔ خپل ورځني ژوند کښې د مرتکز کېدلو لهٔ پاره څهٔ مثبت درکوي تاسو سره د ټولنې د برخې پهٔ توګه ځان محسوس کولو کښې مرسته کوي.

## زهٔ پهٔ رضاکارانه توګه باندې کار کول ځان لهٔ پاره څنګه موندلی شمه؟

کېدی شي چې تاسو لهٔ وړاندې نه داسې د څهٔ ځای پهٔ اړه معلومات درلودی چې هلته کښې تاسو د رضاکار پهٔ توګه کار کول به وغواړی، لکه څنګه چې د ټولنې پهٔ مرکز کښې، پهٔ ځائي خېریه اداره کښې یا د کډوالو د ټولنې پهٔ تنظیم کښې. **هلته ولاړ شئ او د مدیر سره یا د بل داسې کس سره چې هغه مرسته کولی شي د خبرې کولو لهٔ پاره غوښتنه وکړی.**

که تاسو پهٔ رضاکارانه توګه باندې کار کولو ځای موندلو کښې مرستې ته اړتیا لری نو تاسو د خپل One Stop Service **سره خبرې کولی شی** یا خپل ځائي د **رضاکار مرکز (Volunteer Centre)** ته ولاړ شی. **زیاتره ښارګوټي او ښارونه رضاکار مرکز لري، کوم چې داسې یوه ټولنه ده چې د خلکو لهٔ پاره رضاکارانه کار غواړي.** هغوی به تاسو نه پوښتنه وکړي چې تاسو پهٔ څهٔ کښې شوق لری او

www.advice-resources.co.uk

Produced for advice-resources by RAGU, London Metropolitan University, July 2006. Last updated: Sep 2008.

تاسو به د ځائي ټولني سره جوړه کړي. تاسو خپل ځائي رضاکار مرکز په اړه په دې ویبځي باندې هم لټون کولی شی www.do-it.org.uk. تاسو دا ویبځای د دې لۀ پاره هم په کار کښي راوستلی شی چې ځان لۀ پاره په خپله رضاکارانه موقع و لټوی.

تاسو ځائي ورځپاڼي، یا په خپل ځائي کتابتون یا د ټولني پۀ مرکز کښي د یادووني تختئ هم کتلی شی. هغه ټولني چي د رضاکارانو پۀ لټون کښي وي به اکثره پۀ دغو کښي اعلامیي ورکوي.

## رضاکاران څۀ کولی شي؟

رضاکاران پۀ **ډېرو کړنو** کښي شامېلېدلی شي. دا پۀ تاسو پوري ده چي تاسو د رضاکار پۀ توګه څۀ کول غواړی نو داسي څۀ خوښ کړی چي په هغۀ کښي تاسو زړۀ لګېږي او تاسو پکښي خوند مومی. د کړنو ځو مثالونه دا دي:

- ژباړه
- د مشورې کار
- د ټولني د پرمختیا کار
- اداري \ دفتري کار
- پۀ کلب کښي د مشرانو \ کوچنیانو سره مرسته کوونه
- پۀ روغتون کښي د ناروغو سره ملګرتیا کول او د هغوی پاملرنه کول

دا ممکنه ده چي تاسو داسي څۀ مونده کړی چي هغه د تاسو د هنرونو او د تاسو د شوق سره سمون خوري. که تاسو غواړی چي څۀ نوی کار وکړی، نو رضاکارانه کار کول د نویو هنرونو د پرمختیا لۀ پاره ډېره ښه لار ده. کېدی شي چي تاسو پۀ داسي ډګر کښي رضاکارانه کار کولو لۀ پاره پرېکړه وکړی چي هغه به پۀ راتلونکي کښي تاسو د کار پۀ توګه خپلول غواړی. ځني کړني به تاسو نه دا اړتیا لري چي تاسو انګلیسي پۀ ښه توګه سره وایئ، خو د نورو ځنو کړنو لۀ پاره به دا دومره مهمه خبره نۀ وي. یاد ولری چي رضاکارانه کار کوونه د خپلی انګلیسي ژبي د روزني لۀ پاره یوه خورا ډېره ښه لار ده.

## زۀ د رضاکار پۀ توګه کار کولو لۀ پاره غوښتنلیک څنګه ورکولی شمه؟

ډېر تنظیمونه چي د رضاکارانو سره کار کوي هغوی **د غښتنلیک پۀ اړه ډېر غېر رسمي بهیر لري**. تاسو کولی شی چي د مدیر سره یا د رضاکار ژغورونکي سره د لنډي خبرو لۀ پاره مرکه کولی شی او د خپل رول پۀ اړه موافقه ورسره وکړی. لۀ دې نه پس تاسو ډېر ژر خپل کار پیل کولی شی.

پۀ ځني نورو کیسونو کښي به **د غوښتنلیک ورکولو لۀ پاره نور ډېر رسمي نظام وي**. تنظیم کولی شي چي د ځانګړي رضاکارانه رول پۀ اړه اعلامیه خپره کړي. هغوی کولی شي چي شوق لرونکي خلکو نه غوښتنه وکړي چي خپلي **CV یا د غوښتنلیک فارم** ور ولېږي او د غوښتنلیکونو ورکوونکو څخه د ورګرزوونو پۀ اړه غوښتنه وکړي. تنظیم به بیا غوښتنلیکونه وګوري او پرېکړه به وکړي چي د دې رضاکار ځای لۀ پاره ښوک مرکي ته را وغواړي. د دې رسمي کړنلارې څخه چي وو نۀ وېرېږی. دا برتانئي کښي پۀ راتلونکي کښي دکار کولو پۀ لړ کښي تل یوه ښه روزنه ده. تاسو د دې رسمي د غوښتنلیک ورکولو د بهیر پۀ اړه نور معلومات د دې لاربنود پۀ بله برخه کښي تر لاسه کولی شی چي سرټیکي ئې دا دي' کار کوونه او خپل ځاني کار کوونه'

## ما ته د رضاکار پۀ توګه کار کولو کښي څۀ ډول توقع لرل پۀ کار دي؟

رضاکارانه کار کول پۀ عمومي توګه کښي ډېر لچکدار وي هم له دې کبله تاسو دا توقع کولی شی چي پۀ دې کښي د خپلو نورو مصروفیاتو سره ځان ځای کړی، لکه څنګه چي پوهنځی یا کورنۍ. تاسو ته پۀ کار دي چي پۀ دې باندې د هغۀ تنظیم سره خبرې اترې وکړی د کوم سره چي تاسو د رضاکار پۀ توګه کار کوی.

د رضاکار پۀ توګه به تاسو دا تر لاسه کوی:

- پۀ دې اړه روڼ نظر چي تاسو به څۀ کوی
- د چارندوی د بیو تاکلي شوي غړي لۀ اړخه ملاتړ
- د تنظیم پۀ اړه پېژندنه
- د تاسو د خرڅو پۀ اړه پیسې، لکه څنګه چي تګ را تګ او د خوړو خرڅي

ځني تنظیمونه کېدی شي د دې جوګه وي چي د ماشومانو د پاملرني خرڅي هم واخلي. که تاسو دا ډول مرستي ته اړتیا لری نو دا مهم دي چي تاسو پۀ دې اړه د رضاکار پۀ توګه ژمنه ورکولو نه وړاندې خبري اترې وکړی، پۀ دې چي دا ډول مرستي پۀ خورا لږ ځایونو کښي ورکړلی کېږي.

www.advice-resources.co.uk

رضاکارانه کار کول د خوند نه ډک کار دی نو که تاسو څۀ ډول ستونزې لرئ نو خپل رضاکار ژغورونکي سره خبرې وکړئ. تاسو لۀ پاره پۀ هيڅ يو ځای کښې د رضاکار پۀ توګه اپاتې کېدل لازمي نۀ دي که تاسو داسې نۀ غواړئ، خو داسې کوښښ کوئ چې که چېرې تاسو د پرېښودلو اراده لرئ نو تنظيم ته تر ممکنه حده پورې يادوونه (نوټس) ورکړئ.

## تنظيم به زما څخه څۀ توقع لري؟

دا ډېره مهمه خبره ده چې تاسو خپل **رضاکارانه کار** هم هغه هومره **سنجيدګۍ** سره **اخلئ** لکه څنګه چې يو مزد لرونکی کار اخلئ. تاسو له به پۀ کار وي چې هغو ټولو تګلارو باندې عمل وکړئ کومې چې دا تنظيم ولري، تاسو له پۀ کار دي چې د **باور وړ او مسلکي اوسئ** او تنظيم ته د وړاندې نه خبرتيا ورکړئ که چېرې تاسو د پرېښودلو اراده جوړه کړئ يا که تاسو پۀ معمول وخت کښې حاضرې نۀ شئ ورکولی. تنظيم کېدی شي چې د يوې کړنې د بشپړه کولو لۀ پاره، يا د وروستۍ نېټې باندې د کار تر سره کولو لۀ پاره پۀ تاسو باندې انحصار ساتي، نو دا ډېره مهمه خبره ده چې تاسو هغوی ته پۀ خپل اړه معلومات ورکوئ. د خپل رضاکار ژغورونکي لۀ اړخه ورکړزوونه کېدی شي چې تاسو سره پۀ راتلونکي کښې د کار پۀ موندلو کښې د مرستې ذريعه جوړه شي.

## د CRB کتنه څۀ شی وي او آيا زۀ دې ته اړتيا لرمه؟

**که تاسو غواړئ چې کمزورو خلکو سره د رضاکارېه توګه کار وکړئ**، لکه څنګه چې کوچنيان او مشران، د تاسو تنظيم به تاسو نه غوښتنه وکړي چې د څرګندوونې فارم ډک کړئ. دې ته CRB (د جنايتي ريکارډونو بيورو) کتنه هم وائي. دا لۀ دې لۀ پاره پۀکار کښې راوستلی شي **چې دا معلومه کړی شي چې آيا تاسو داسې جنايتي ريکارډ لرئ** د کوم د مخه به تاسو د زيان رسېدونکيو خلکو سره کار کولو لۀ پاره ناوړه وګرزئ. دا داسې څۀ نۀ دي چې تاسو ترې نه وو وېرېږئ. تنظيم به تاسو له فارم درکړي او تاسو سره د ډکولو پۀ پروسه کښې مرسته وکړي. دا خدمت د رضاکارانو لۀ پاره وړيا دی. تاسو نور معلومات د ې ويبځي نه تر لاسه کولی شئ [.www.crb.gov.uk](http://www.crb.gov.uk) يا Criminal Records Bureau ته پۀ 811 90 90 0870 باندې ټيليفون کولو د لارې.

د کډوالو او د پناه غوښتونکو لۀ پاره دا مشکله کېدی شي چې ملاتړ کوونکي لاسوندونه چې کومو ته اړتيا وي ور ولېږي. که تاسو پاسپورټ نۀ لرئ نو بيا تاسو ته پۀ کار دي چې د اوږدۀ لسټ څخه پېژندنې 5 لاسوندونه وړاندې کړئ (لکه څنګه چې د وادۀ ليک، زېږدليک، د بانک څرګندوونه، د خدمت بل، يا NHS کارټ). که تاسو دا لاسوندنو وړاندې کولو کښې پاتې راځئ نو بيا تنظيم ته پۀ دې لړ کښې تفصيلات ورکړئ. هغوی کېدی شي چې د دې جوګه وي چې تاسو پۀ بله څۀ لار پۀ خپل کړنو کښې شامل کړي.

## آيا پۀ رضاکارانه توګه سره کار کول زما پۀ ګټو باندې اغيز لرلی شي؟

که تاسو کډوال ياست او د کار غوښتونکو الاؤنس (Jobseekers Allowance) اخلئ نو بيا تاسو پۀ رضاکارانه توګه سره کار کولی شئ خو تاسو ته پۀ کار دي چې تاسو ډېر پۀ پام کښې اوسئ چې لۀ دې امله د تاسو ښېګړو باندې اغيز نۀ پرېوزي. تاسو لۀ پاره دا مهم دي **چې تاسو د کار لۀ پاره شتون اوسئ**، د کوم مطلب چې دا دی چې تاسو له پۀ کار دي چې د کار پۀ اړه مرکې لۀ پاره تاسو د 48 ساعتونو پۀ خبرتيا باندې حاضرېدلو لۀ پاره چمتو وی او د کار پېل کولو لۀ پاره د يوې اوونۍ د خبرتيا سره شتون وی. تاسو لۀ پاره دا هم پۀ کار دي **چې تاسو پۀ کړنې توګه سره د کار پۀ لټون کښې اوسئ**. پۀ دې کښې د کار موندنې اژانس سره ځان تسجيل کول، د کارونو لۀ پاره غوښتنليک ورکول يا کار ورکوونکو ته خپله CV ور لېږل شامل دي. تاسو ته پۀ کار دي چې د څۀ ډول ستونزو مخنيوی کولو لۀ پاره **د کار موندنې مکتب ته وو وايئ چې تاسو رضاکارانه کار کوئ**. د تاسو رضاکار ځارونکي کولی شي چې د کار موندنې مکتب ته ليک وليکي چې هغوی ته و ښائي چې تاسو څۀ ډول خرڅې تر لاسه کوئ، او دا چې هغوی ته دا معلومه ده چې تاسو کېدی شي د کارموندلو پۀ ترڅ کښې د هغوی سره کار کول پرېږدئ او هم هغه هنرونه هم پکښې لسټ کړي کوم چې تاسو د رضاکار پۀ توګه پرمخ بوزئ.

ADVICE RESOURCES



# کارروز ګار او خپل کار روزګار

## د کډوالو او پناه غوښتونکو لۀ پاره لارښود

### آیا زۀ کار کولو ته اجازه لرمه؟

**کډوال او هغه پناه غوښتونکي چې د کار پۀ اړه اجازه (permission to work) لري پۀ برتانئي کښې کار کولو ته اجازه لري.** پۀ دې اړه نور معلومات د دې لارښود پۀ هغې برخې کښې شته چې سرټکی ئې دا دی 'د مهاجرت دریځ او حقوق او وړتیاوې'. که تاسو داسې پناه غوښتونکی کس یاست چې د کار پۀ اړه اجازه نۀ لری نو تاسو خپل ځان د کار کولو لۀ پاره چمتو کولی شی. رضاکارانه کار کول یوه داسې لار ده چې د هغې تر مخې تاسو کولی شی چې ګټور تجربه تر لاسه کړی او ورسره ورسره د برتانئي ورګرزوونې هم. تاسو دا هم کولی شی چې پۀ برتانئي کښې د مزدورې مارکیټ پۀ اړه څېړنې وکړی، د خپل مسلک پۀ اړه څېړنه وکړی، یا د تړاؤنو یو پېرند (جال) جوړ کړی.

### د کار لټون څۀ دي؟

دا مهمه خبره ده چې تاسو پۀ برتانئي کښې د کار د لټون پۀ اړه پۀ بهیر باندې ځان پوهه کړی که تاسو غواړی چې ځان لۀ پاره کار مونډۀ کړی. دا کېدی شي چې د هغۀ نظام څخه ډېر توپیر ولري د کوم سره چې تاسو بلد یاست. پۀ برتانئي کښې نظام دا ډول دی؛ **ځای موندل**، بیا د هغۀ ځای لۀ پاره غوښتنلیک ورکول او که چېرې تاسو خوښ کړی شی، نو بیا مرکه ورکولو. د کار د لټون نظام **د مسلک پر بنسټ باندې بدلېدلی شي،** هم لۀ دې کبله دا مهمه ده چې تاسو د سلاکار سره خبرې وکړی یا نور معلومات تر لاسه کړی که چېرې تاسو غواړی چې پۀ یوې ځانګړئې ډګر کښې کار وکړی.

پۀ برتانئي کښې د کار د لټون بهیر ډېره اوږده موده اخیستلی شي. دا خبره مهمه ده چې تاسو دا یاد وساتی چې تاسو د برتانئي نه د باندې نه تر لاسه کړي شوي هنرونه، تجربه او پوهه پۀ کار کښې راوستلی شی. که تاسو د بهر نه وړتوبونه یا د کار تجربه لری نو د دې لارښود برخه، 'د بهر څخه وړتوبونو او د تجربې پۀ کار کښې راوستنه' به هم د تاسو لۀ پاره ګټور وي.

### زۀ د کار مارکیټ کښې لټون څنګه کولی شمه؟

د تاسو د وخت ارزښت ناک استعمال به دا وي چې تاسو د خپل مسلک پۀ اړه څېړنه وکړی، که تاسو څۀ مسلک لری، یا بیا د برتانئي د کار مارکیټ پۀ ټولیزه توګه سره و پلټی. تاسو ته پۀ کار دي چې دا معلومه کړی چې د چا سره خبرې کول دي، هغوی چېرته دي او نظام پۀ څۀ ډول سره کار کوي.

که تاسو پۀ برتانئي کښې د کار مارکیټ پۀ اړه ډېر معلومات لری نو دا به تاسو سره مرسته وکړي چې تاسو پوهه شی چې دلته کښې نظام څنګه کار کوي. که تاسو څۀ مسلک یا شعبه لری او داسې امید لری چې هم دا به جاري ساتی، نو تاسو ته پۀ کار دي چې دا معلومه کړی چې آیا دا هم هغه هومره کار غواړي او دا چې آیا د دې لۀ پاره پۀ برتانئي کښې غوښتنه شته. ځنې **ویبځایونه چې تاسو سره** د برتانئي د کار مارکیټ پۀ لټون کښې **د مرستې وړ ختلی شي** دا دي:

- http://jobseekers.direct.gov.uk
- www.prospects.ac.uk/links/SectorBs

که تاسو ځانګړی مسلک لری نو تاسو کېدی شي لۀ ځان څخه پوښتنه وکړی:

- دا کار به پۀ برتانئي کښې پۀ څۀ باندې مشتمل وي؟
- آیا زۀ چې کوم وړتوبونه لرمه هغه پۀ برتانئي کښې غوښتنې بشپړه کوي؟
- آیا پۀ دې کښې بیا وړتوب تر لاسه کول به ارزښت ولري یا دا چې زما لۀ پاره به د دې سره تړلی بل مسلک ښۀ وي؟
- آیا زۀ به دا خوښ کړم چې خپل راتلونکی بدل کړمه؟

www.advice-resources.co.uk

Produced for advice-resources by RAGU, London Metropolitan University, July 2006. Last updated: Sep 2008.

د تاسو سره د دغو په اړه فکر کولو کښي د مرستي په توګه تاسو کولی شی چي:
- د مسلکي تولني سره تړاؤ ونيسی یا د هغوی ویبځي ته ولاړ شی (په برتانئي کښي د مسلکي تولنو لسټ تر لاسه کولو له پاره دا ویبځای په کار کښي راولی): www.hero.ac.uk
- د کار په اړه اعلاميي وګوری چي تاسو ته معلومه شي کار ورکوونکي د څه په اړه غوښتني لري
- د کار د غښتنليکونو بندلو له پاره غوښتنليک ورکړی چي تاسو د کارونو پر تفصيل باندي نظر واچوی او شخصي سمتياوو باندي هم
- د خپل مسلک په اړه مجلي و لولی
- د چا داسي کس سره خبري وکړی چي د تاسو د مسلک سره تړاؤ ولري.

## هغه کوم بنستي هنرونه دي چي کار ورکوونکي د هغو په لټون کښي وي؟

د ځانګړي کار له پاره ځانګړي هنرونو سره څنګ پر څنګ، کار ورکوونکي به د داسي کار کوونکو په لټون کښي وي چي هغوی بنستي هنرونه (key skills) ولري. بنستي هنرونه هغه ورتياوي دي چي د **کار ورکوونکي غواړي** د هغوی ټول کار کوونکي دا هنرونه ولري. دوی په کار، زده کړي او ژوند کښي د لېږدېدلو وړ وي. که تاسو خپل راتلونکی بدل کړی نو

تاسو خپل بنستي هنرونه د خپل نوي کار په ډګر کښي په کار کښي راوستلی شی. بنستي هنرونو کښي دا شامل دي:
- د تړاؤ نیونی هنرونه
- IT
- نیومرېسي
- د نورو سره کار کول
- د ستونزي حل کول
- د **خپل** زده کړو او کار کردګی ښهٔ کول

## نیتورکنګ څهٔ ته وائي؟

نیتورکنګ مطلب دی د **خلکو سره لیدل کتل** کوم چي تاسو ته د تاسو د کار د سیمي په اړه **مشوره او معلومات** درکولی شي او په دي ډګر کښي **تاسو نورو ته ور وپیژندي**. دغو خلکو ته 'ترونی' ویئل شي. ډېر خلک خپله ړومبنی موقع د نیتورکنګ د لاري مونده کوي. یو ځل چي تاسو کار ورکوونکی په ګوته کړی، نو بیا تاسو د رضارکارانه یا د مزد لرونکي ځای له پاره قیاسي پرمختګ جوړولی شی.

کېدی شي چي تاسو د دي جوګه نهٔ وی چي په روایتي نیتورکونو باندې انحصار وکړی هم له دي کبله دا مهمه خبره ده چي تاسو په برتانئي کښي خپل نیتورک جوړولو کښي کړنی اوسی. د مسلک راتلونکي په اړه مشوره ورکوونکی تاسو سره مرسته کولی شي چي تاسو خپل د ترونيو لسټ جوړ کړی شی پهٔکوم کښي به چي دا شامل وي:
- ملګري او کورنی
- د **پوهنځي** ښوونکي
- د **تاسو** د کار په ډګر کښي نور خلک
- د **تاسو** د کار په ډګر کښي بنستي کار ورکوونکي
- **مسلکی تولنی**

## زهٔ به د کار په اړه تش ځایونه څنګه موندهٔ کړمه؟

### ورځپاڼي او مجلي

تاسو په خپلي ډګر کښي د تش ځایونو له پاره په **ځائي ورځپاڼو** کښي کتلی شی، یا په ټولي برتانئي کښي د تش ځایونو له پاره په **ملي ورځپاڼو** کښي کتلی شی، په ځانګړئي توګه سره په پراخ کاغذي ورځپاڼو کښي. د ورځپاڼو ویبځایونه په اکثره وخت کښي د اعلامیه شویو د کار تش ځایونو د لټون له پاره یوه اسانه لار وي. تاسو په خپل ځائي کتابتون کښي یا په خبري ایجنت کښي د **ځانګړیو مجلو** له پاره لټون کولی شی.

### د کار موندني مرکزونه

تاسو له پاره په کار دي چي ښېګړې نهٔ تر لاسه کوی که غواړی چي د کار موندني په مکتب کښي شته سرچيني په کار کښي راولی.
- **Jobpoints** - Jobpoint د کار موندني په **مرکزونو** کښي يو داسي کمپيوټر دی چي هغه د پردې د لمسولو سره کار کوي او هغه په زرګونو د کار تش ځایونه لري. بس یوازي د هغهٔ کار قسم خوښ کړی د کوم چي تاسو په لټون کښي یاست او بیا به د تش ځایونو لسټ تاسو ته را ښکاره شي.

www.advice-resources.co.uk

- **انټرنيټ** – تاسو د دوی پر ويبځای باندې هم د کار موندني د مکتب لاندې تش ځايونو لۀ پاره لټون کولی شی www.jobcentreplus.gov.uk.
- Jobseeker Direct ته پۀ **0845 6060 234** باندې **ټيليفون وکړی** – د کارموندني د مکتب د سلاکار سره د هيڅ هم تش ځای پۀ اړه خبرې کولو لۀ پاره. هغوی تاسو ته د تاسو پۀ ډګر کښې د تشو ځايونو پۀ اړه ښودلی شي، تاسو ته د غښتنليک فارمونه در ليږلی شي او ځينې وختونو کښې د مرکې لۀ پاره هم انتظام کولی شي.

**پۀ کار د لګولو اژانسونه**
ډېر خلک پۀ کار د لګولو يا کار موندلو د اژانسونو د مرستې د لارې کار موندۀ کړې. دا هغه اژانسونه دي کوم چې **د شرکتونو سره** د موقتي يا پوخ کار تش ځايونو لۀ پاره **د کارکوونکو پۀ موندلو کښې مرسته کوي**. تاسو د دغو اژانسونو ځايليکونه پۀ خپل ځائي د ټيليفون پۀ لارموند کښې يا پۀ 'Yellow Pages' کښې موندلی شی. پۀ کار د لګولو اژانس سره ځان تسجيل کولو لۀ پاره تاسو ته پۀ کار دي چې هغوی سره د ليدني لۀ پاره وخت وټاکی. دوی به غواړي چې د تاسو د CV نقل، ورګرزووني او د کار کولو لۀ پاره د اجازې ثبوت وګوري.

**د کانونو کړکی او د خبرتياو تختې**
تاسو د تش ځايونو په اړه اعلاميې پۀ دکانونو کښې موندلی شی لکه څنګه چې نيوز ايجنټ، ټوليز دکانونه او لوی مارکيټونه. ټولنيز تنظيمونه او مرکزونه هم کېدی شي چې د تش ځايونو د ښودني پۀ اړه انتظامات ولري. پۀ دې ډول سره اعلاميه شوي زياتره کارونه به د لږ - هنرونو د کار وي او د دې لۀ پاره به پيسي هم لږې وي.

**انټرنيټ**
خلک چې د کار پۀ لټون کښې وي اوس انټرنيټ ډېر نه ډېر پۀ کار کښې راولي. ياد وساتی چې که تاسو پۀ پوهنځي يا کور کښې انټرنيټ ته رسېدنه نۀ لری نو تاسو به وکړی شی چې د خپل ځائي کتابتون د لارې انټرنيټ ته وړيا رسېدنه تر لاسه کړی. ځنې ويبځايونه ډېر ټوليز وي او نور د ځانګړيو مسلکونو يا د هنرونو د کچو پۀ اړه مخصوص وي. يو څو مثالونه دا دي:

د کار پۀ اړه ټوليز ويبځايونه:
- www.monster.co.uk
- http://jobseekers.direct.gov.uk
- http://www.fish4.co.uk/iad/jobs
- http://jobs.guardian.co.uk
- www.jobcentreplus.gov.uk

د حکومتي او رضاکارانه سيمي کارونه:
- www.lgjobs.com
- www.charitypeople.co.uk
- www.jobsgopublic.com
- www.opportunities.co.uk

بکالوريوس \ مسلکي کارونه:
- www.get.hobsons.co.uk
- www.prospects.ac.uk
- www.thebigchoice.com
- http://targetjobs.co.uk/graduate-jobs/

**قياسي غوښتنليکونه**
د قياسي پرمختګ' کولو مطلب دا دی چې تاسو د کار ورکوونکي سره لۀ دې امله ټراؤ ونيسی چې تاسو دا فکر کوی چې کېدی شي د هغۀ سره کار وي. تاسو دا د کور ليک سره د CV ورليږلو د لارې، تنظيم ته ټيليفون کوولو د لارې يا هغوی ته د ور تللو سره کولی شی. که تاسو داسي خوش کړی چې تنظيم ته پۀ خپله ور شی نو تاسو ته پۀ کار دي چې د ور تلو نه وړاندې هغوی ته ټيليفون وکړی چې هغوی نه معلوم کړی چې دا صحيح دي. تاسو لۀ به پۀ کار وي چې هغوی ته ور تلو نه وړاندې د تنظيم پۀ اړه څېړنه وکړی.

www.advice-resources.co.uk

## زۀ به د کار تش ځای لۀ پاره غوښتنلیک څنګه ورکړمه؟

پۀ برتانئي کښي رسمي او غېر رسمي دواړه د کار لۀ پاره د غښتنلیک نظامونه وجود لري. یو **غیر رسمي نظام** ډېر عام نۀ دی او پۀ غټه کښي د لږ – مزد واله یا موقتي کار لۀ پاره شته. تاسو کولی شی چي د مدیر سره د ګړندی خبرې لۀ پاره و وینی او انتظامات پۀ ګړندۍ توګه سره جوړ کړی.

د **کار لۀ پاره رسمي غوښتنلیک نظام** ډېر عام دی. د کار پۀ اړه اعلامیي کښي داسي معلومېږي چي تاسو نه به **د کور لیک سره د خپلي CV** د ورلېږلو لۀ پاره یا هغوی ته ټیلیفون کولو یا تنظیم ته د **غوښتنلیک بنډل** تر لاسه کولو لۀ پاره د لیکلو پۀ اړه غوښتنه شوئي وي. د غوښتنلیک بنډل به تاسو ته د غوښتنلیک ورلېږلو پۀ اړه د وروستی نېټي معلومات وړاندې کړي او پۀ دې کښي پۀ عمومي توګه سره دا شامېل وي:

- د کار پۀ اړه تفصیل
- د کس پۀ اړه سمتیاوې
- د غوښتنلیک فارم یا د CV لۀ پاره غوښتنه
- د برابرو مواقعو د پلټني فارم
- د ورګزوونو لۀ پاره غوښتنه

## د کار تفصیل څۀ ته وائي؟

د کار تفصیل (job description) به د تش ځای پۀ اړه **د فرائضو او مسؤلیتونو** تفصیل ورکړي. دا به تاسو ته څرګند کړي چي **د دې کس نه به پۀ تنظیم کښي څۀ توقع کېږي**. دا به تاسو ته کار سرټکي و ښائي، د دې ځای پۀ اړه څوک مسؤل یا څوک ئې سنبالښت کوي، د کار مقصد او د کار لۀ پاره به ټول فرائض او مسؤلیتونه لسټ کړي. دا مهمه خبره ده چي تاسو دا پۀ پام سره و لولی چي تاسو د ځان لۀ پاره د صحیح کار لۀ پاره غوښتنلیک ورکوی.

## د کس پۀ اړه سمتیاوې څۀ ته وائي؟

د کس پۀ اړه سمتیاوې (person specification) د کار د تفصیل سره تړلئي وي. دا د هغۀ کښ لۀ پاره **معیار** مقرر کوي **څوک چي تنظیم ته پۀ کار دی**. د کس پۀ اړه سمتیاوې کېدی شي چي هنرونو، تجربو، وړتوبونو، لیاقتونو او ځاني کېفیتونو ته وګوري.

د کس پۀ اړه سمتیاوې به تاسو ته و ښائي چي تاسو لۀ پاره څۀ او کومه کچه باندې لرل پۀ کار دي. ځنې معیارونه ضروري ښودل شوي وي، پۀ نورو معنو کښي د دې مطلب دا وي چي د دې کار کولو لۀ پاره تاسو ته پۀ کار دي چي دا پۀ لازمي توګه سره ولری. نور معیارونه د خوښي وړ پۀ توګه ښودلي شوي وي. د دې مطلب دا وي چي دا د کار لۀ پاره بنسټي نۀ دي خو دا به د تاسو د غوښتنلیک لۀ پاره د مرستي وړ وګرزي که چي تاسو پۀ دې کښي ځني یا ټول د خوښي وړ معیارونه ولری.

کله چي تنظیم پۀ دې اړه پرېکړه کوي چي څوک به د مرکي لۀ پاره را وغواړي، یا 'د لسټ لنډون' (short listing) کوي، هغوی به د تاسو غوښتنلیک ته کتنه وکړي او دوی به دا وګوري چي تاسو پۀ څۀ ډول سره دا څرګند کړي دي چي تاسو د کس پۀ اړه سمتیاوې لری.

## زۀ به د غوښتنلیک فارم څنګه بشپړ یا ډک کړمه؟

د غوښتنلیک فارم به پۀ څو ځنو برخو کښي وېشلی شوی وي. پۀ دې کښي به د تاسو ځاني معلومات (لکه څنګه چي نوم او ځایلیک)، د تاسو وړتوبونه او د تاسو د کار وروستی (لرغون) شامل وي. یاد وساتی چي که چېرې تاسو رضاکارانه تجربه لری نو دې ته کار ورکوونکي ډېر پۀ درناوي سره ګوري او دا مهمه ده چي تاسو دا هم پۀ خپل غوښتنلیک کښي ور ګډه کړی.

داسي احتمال کېږي چي د تاسو غوښتنلیک څخه به فوتو کاپیاني جوړېږي نو پۀ کار ده چي تاسو خپل غوښتنلیک **چاپ کړی یا د کمپیوټر د لارې ئې ولیکی**، او یا ئې بیا **روڼ لاسي لیک کښي ولیکی**. که تاسو لۀ پاره پۀ فارم کښي ځای لږ شي نو د هغۀ سره د کاغذ بله پاڼه ولګوی خو دا خبره یقیني کړی چي پۀ هغي پاڼي باندې روڼ لیبل و لګوی.

## د ځاني څرګندوونه څۀ ته وائي؟

پۀ غوښتنلیک پۀ فارم کښي د تاسو ځاني څرګندوونه (personal statement) لۀ **ټولو څخه مهمه برخه ده.** دا تاسو سره موقع ده چي ورته **څرګند کړی** چي تاسو د کس پۀ اړه سمتیاوې ټولي لری او دا چي **تاسو د دې کار لۀ پاره د ټولو نه ښۀ کس یاست**.

ځنې ګټورې خبرې دا دي:

- د غوښتنليک په فارم باندې ليکلو نه وړاندې د خپل ځاني څرګندووني ړومبۍ کښې ډرافټ وليکئ
- خپل ځاني څرګندووني باندې وخت خرڅ کړئ او دا ډول دا يو ښهٔ غوښتنليک برابر کړئ
- دا خبره يقيني کړئ چې تاسو د کس په اړه په سمتياوو کښې ورکړې شوې هر يو نقطې باندې خبرې وکړئ
- د معيارونو د بشپړه کولو په اړه ثبوت وړاندې کړئ او لنډ مثالونه ورکړئ
- د هر نوي کار د پاره چې تاسو غوښتنليک ورکوئ نو خپله نوئې ځاني څرګندونه ليکئ
- خپله ځاني څرګندونه خوندوره او ځان ته جوړه کړئ
- د ليږلو نه وړاندې يو سلاکار ته ورکړئ چې هغه ئې وګورې
- د خپل ځاني څرګندووني يو نقل ځان سره کيږدئ په دې چې کېدې شي د دې په اړه په مرکه کښې پوښتنه درنه وشي.

## زهٔ به CV او کور ليک څنګه وليکمه؟

CV يا Curriculum Vitae يو داسې لاسوند دی کوم کښې چې **د تاسو ورتوبونو، هنرونو، تجربو او شوقونو په اړه خلاصه ورکړئ شوې وي**. کورنګ ليک هغه ليک ته وائي کوم چې تاسو د خپلې CV سره ور ليږئ چې کوم کس هغه لولي نو هغه د تاسو په اړه ليوالتيا ولري او په دې تفصيل ورکوي چې تاسو ولې د دې کار لهٔ پاره ډېر ښهٔ ياست. دا ډېره مهمه ده چې تاسو په کورنګ ليک هغه څهٔ بيا نهٔ وليکئ کوم چې د ستاسو په CV شته خو د خپلو هنرونو، تجربو او کيفيتونو په اړه په تفصيل سره وليکئ. د خپل کورنګ ليک د جوړولو په اړه مشوره تر لاسه کولو لهٔ پاره تاسو ته په کار دي چې دې ويبځي ته ولاړ شئ:
www.get.hobsons.co.uk/advice/applications_covering

دا مهمه خبره ده چې د CV جوړولو په وخت کښې **تاسو د چا څخه مشوره تر لاسه کړئ**. تاسو د خپلې CV د ليکلو په لړ کښې لږ ډېر مرسته د دې ويبځي نه تر لاسه کولی شئ: http://careersadvice.direct.gov.uk/helpwithyourcareer/writecv/

تاسو ته په کار دي چې **د هر يو کار لهٔ پاره** چې تاسو غوښتنليک ور ليږئ **خپله CV د هغهٔ کار لهٔ پاره تياره کړئ**. تاسو د يوې بنستې CV سره کار پيل کولی شئ کومې کښې چې د تاسو ټول هنرونه، ورتوبونه او شوقونه څرګند شوي وي. د هغې نه وروستو بيا تاسو کولی شئ چې د هرې موقع پر مناسبت سره په خپلې CV کښې خپلې پياوړتياوې او کيفيتونه څرګند کړئ.

CV لهٔ ډېرو او بېلا بېلو لارو څخه ليکلی کېدل شي. په دې کښې د ټولو نه په عمومي توګه سره دا لاندې طريقې استعمالېږي:

- **د کړنو (Functional) پر بنسټ جوړه شوئې CV** – په دې کښې د تاسو تړاؤ لرونکي هنرونو او پياوړتياوو باندې زور ورکړی شوی وي نه که د تاسو د کار اوزده کړو په وروستۍ (لرغون) باندې. دا ډول CV په اکثره توګه د پناه غوښتونکو او کډوالو لهٔ پاره ډېرې ښې ثابتې شوئې دي، په ځانګړې توګه که تاسو د کار څخه بهر پاتې شوي وئ، خپل مسلکي راتلونکی بدلول غواړئ يا مو د لنډې مودې ډېر ځنې کارونه کړي وي. د کډوال لهٔ پاره د يوې د کړنې پر بنسټ جوړې شوئې CV مثال دProspects ويځي نه تر لاسه کولی شئ www.prospects.ac.uk/downloads/sis/bgissues/CV3.pdf
- **د نېټو پر بنسټ (Chronological) جوړه شوئېCV** – دا ډول CV د تاسو معلومات د نېټو پر ترتيب کښې کيږدي. دا ښودلی شي چې تاسو په څهٔ ډول سره په خپل مسلکي راتلونکي کښې پرمختګ کړی دی او تاسو په څهٔ ډول سره هنرونه او ورتوبونه تر لاسه کړي دي. که چېرې تاسو ډېر ځله کارونه بدل کړي وي يا په خپل ژوندلار په وروستي (لرغون) کښې وقفې لرئ نو بيا کېدی شي چې دا ډول CV د تاسو لهٔ پاره ښهٔ قسم نهٔ وي.
- **پر نخښنه (Targeted) CV** – دا په ځانګړې توګه سره ليکلئ شوئې وي او د يو ځانګړي کار ورکوونکي غوښتنو په لړ کښې ليکلئ شوئې وي. په دا ډول CV کښې په کار دي چې دا څرګند کړئ شي چې تاسو د تنظيم کوم ته چې تاسو غوښتنليک ورکړئ دی د اړتياوو په لړ کښې پوهه لرئ.

دا يوه ګټه وي که څوک ډېرې ژبې ويلې شي. تاسو ته په کار دي چې خپل غوښتنليک فارم کښې يا په CV کښې هغو ژبو په اړه ذکر وکړئ کومې چې تاسو وايئ. دا به ډېره ښهٔ وي که تاسو د ؤيپونکيو ژبو' په برخه کښې انګليسي ذکر نهٔ وکړئ په دې چې څوک کس چې د تاسو غوښتنليک لولي هغه به دا اندازه ولګوي چې تاسو انګليسي وايئ.

## ورګرزوونه يا ورګرزوونکی څهٔ ته وائي؟

ورګرزوونکی (referee) يو داسې کس وي څوک چې تاسو **په ښه توګه سره پېژني** او د مزد لرونکي کار يا رضاکارانه کار لهٔ پاره **د تاسو د غوښتنليک ملاتړ کولی شي**. کېدی شي چې لهٔ دغو کسانو څخه و پوښتل شي چې آيا تاسو دا کار يا رضاکارانه کار په ښهٔ ډول

www.advice-resources.co.uk

سره کولی شی که نه. هغه تنظیم چا ته چې تاسو غوښتنلیک ورکوی د هغو سره د ټېلیفون د لارې یا د لیک د لارې تړاؤ نیولی شي. پهٔ عمومي توګه کښې به تاسو څخه د 2 ورګرزوونکو نومونه ورکولو لهٔ پاره غوښتنه کیږي.

د مزد لرونکیو کارونو لهٔ پاره تاسو ته پهٔ عمومي توګه کښې د داسې کسانو ورګرزوونې (references) وړاندې کول وي چا سره چې تاسو کار کړی وي، یا د تاسو ښوونکی یا بیا د تاسو سلاکار لهٔ اړخه. تاسو ته پهٔ کار دي **چې داسې کسانو نومونه ورکړی څوک چې تاسو پهٔ ښهٔ توګه سره پیژني** او چې هغه د تاسو د هنرونو، لیاقتونو، تجربو او اخلاق پهٔ اړه خپلې ویناګانې ورکولی شي. که تاسو د رضاکارانه کار لهٔ پاره غوښتنلیک ورکوی، نو کېدی شي چې تاسو څخه د 'اخلاق' (character) پهٔ اړه ورګرزوونې وغوښتلی شي. دا داسې کسان دي څوک چې دا څرګندولی شي چې تاسو د باور وړ او اعتماد وړ یاست. دا د تاسو د ځائي ډراپ-ان مرکز، یا د تاسو د ټولنې څخه یا د دیني ټولګي څخه څوک هم کېدلی شي. رضاکارانه کار کول د برتانوي ورګرزونې تر لاسه کولو لهٔ پاره ډېره ښه لار ده کوم چې وروسته د مزد لرونکي کار پهٔ موندلو کښې پهٔ کار راتللی شي.

## زهٔ به د بهرني هېوادونو څخه تر لاسه کړي وړتوبونو پهٔ اړه تفصیلات څنګه ورکوومه؟

تاسو ته پهٔ کار دي چې د بهرنیو وړتوبونو پهٔ اړه تفصیلات ورته وړاندې کړی چې **تنظیم پهٔ هغو باندې پوهه شي**. دا یاد وساتی چې کار ور کوونکی پهٔ دې کښې لیوالتیا لري چې تاسو څهٔ پوه لری او تاسو څهٔ کولی شی.

د تاسو غوښتنلیک پهٔ کار دی چې د تاسو دا ډول وړتوبونو پهٔ اړه **پهٔ انګلیسي کښې ژباړه** ورکړي. که تاسو فکر کوی چې دا به در سره مرسته وکړي نو د **NARIC مساوي** هم شامل کړی. تاسو ځنې هغه هنرونه هم پکښې شاملولی شی کوم چې تاسو د وړتوبونو تر لاسه کولو پر مهال کښې زده کړي وو.

## زهٔ پهٔ برتانیې کښې د کار کولو تجربه څنګه تر لاسه کولی شمه؟

کېدی شي چې تاسو باندې څرګنده شي چې پهٔ خپل مسلک کښې هنري کار نهٔ موندنې یو لامل دا دی چې تاسو پهٔ برتانیې کښې د کار کولو پهٔ اړه اړوند تجربه او ورګرزوونې یا د مراجعې لیکونه (references) نهٔ لرئ. پهٔ کار کښې لګېدنې (work placement) د لارې تاسو دا ترلاسه کولی شئ. **پهٔ کار کښې لګېدنه** دې ته وایې کله چې تاسو **د یو کار ورکوونکي سره موافقه شویې د یو خاص مودې پورې** کار کوې چې **مقصد یې دا وي چې د کار پهٔ اړه وړه تجربه تر لاسه کړئ**. پهٔ کار کښې لګېدنه به تاسو ته د برتانیې د کار پهٔ چاپېریال یا ماحول کښې **د خپلو هغو هنرونو چې یې تاسو لرئ کاروني موقع** در کړي. ځینې تنظیمونه (لکه RAGU) پهٔ مسلکي توګه سره هنرمند کډوالو لپاره پهٔ هنري کار لګېدنې انتظام کولو لپاره ځانګړي پروګرامونه لري. نور ځینې وګړي پهٔ خپلواکه توګه سره د کار ورکوونکو سره اړیکو نیولو د لارې پهٔ کارکښې لګېدنې تر لاسه کړي.

## ما ته پهٔ کار کښې لګېدنې څخه څهٔ ډول توقع لرل پهٔ کار دي؟

پهٔ کار کښې لګېدنو **د مالي ملاتړ کچې چې ورکولی شي توپیر یا فرق** راتللی شي. ځینې د کار ورکوونکي د سفري مصرفونو، د غرمې ډوډۍ مصرفونو او د کوچنیانو پاملرنې لپاره پیسې ورکوي خو نور ځینې کېدی شي چې لږ پیسې ورکړي. پهٔ کار لګېدنو کښې **دا توپیر یا فرق هم کېدی شي چې دا به تر څو اوونیو پورې وي** (د یو څو اوونیو څخه تر څو میاشتو پورې) او دا چې **پهٔ اوونۍ کښې څو ورځې حاضري کول وي**. ځینو پهٔ کار کښې لګېدنو **سره کېدی شي چې ځانګړیې روزنه هم وي** او نور ځینو کښې **تاسو څخه بس 'پهٔ کار باندې' زده کړه تر لاسه کولو توقع کېدلی شي**. کله چې تاسو پهٔ کار لګېدلي وئ نو تاسو له د تنظیم پهٔ اړه **ور پېژندنې**، د خپل څارونکي یا سپروایزر لهٔ اړخه **ملاتړ** او **خپلو هنرونو ته وده ورکولو لپاره موقع** ترلاسه کولو توقع ساتل پکار دي. خو ولې تاسو له پکار دي چې پهٔ ټولګي یا ټیم کښې د ورځني کار کولو پهٔ اړه مرسته وړاندې کولو کښې لږ ډېر وخت مصرف کولو او د نویو هنرونو زده کولو ته هم چمتو پاتې شئ. ټولو کارکوونکو څخه هیله کیږي چې دا ډول کار وکړي.

## کله چې زهٔ پهٔ کار کښې لګېدلی یم نو ایا ماته به پیسې راکولی شي؟

پهٔ کار کښې لګېدنې پر مهال کښې **ځینې کار ورکوونکي به وګړو ته پیسې ورکوي**. دا زیاتره وخت د تنخوا تر ټولو ټیټه کچه وي. تاسو له به پکار وي چې د تنخوا اخیستنې لامله ستاسو **د ګټو وړتیاوو (benefit entitlements)** باندې یا د هر ډول **پهٔ کار کښېکوونکو سره هر ډول حکومتي مالي ملاتړ (in-work support)** چې ستاسو کورنۍ یې تر لاسه کوي، لکه 'د کورنۍ د مالیې باور (family tax credit)' باندې **اغېز** لرلو پهٔ اړه **ډېر پهٔ پام سره فکر وکړئ**. تر ټولو ښه خبره دا ده چې پهٔ دې اړه **نوره سلا تر لاسه کړئ**. تاسو کولی شئ چې دا د وګړو د سلا بیورو (Citizen’s Advice Bureau) څخه تر لاسه کړئ یا خپل ځایي د کارموندنې (Jobcentre Plus) مکتب څخه پوښتنه وکړئ.

## پهٔ کار کښې لګېدنه د رضاکارانه کار کوونې څخه څهٔ ډول توپیر لري؟

دا **خورا ډیر یو شان** دي. تاسو د رضاکارانه کار کوونې د لارې، د هنرونو ټولو کچو پهٔ اړه، ګټوره د کار تجربه او ورګرزوونې یا د مراجعې لیکونه تر لاسه کولی شئ. د مثال پهٔ توګه، وکیلان د وکیلانو پهٔ توګه رضاکارانه کار کولی شي. **پهٔ کار کښې لګېدنه پهٔ دې اړه توپیر لري** ځکه چې دا **نور ډېر مرتب وي** او **موخه یې دا وي چې پهٔ ځانګړیې سیمه کښې د کار تجربه ترلاسه کولو کښې درسره مرسته وشي**، د مثال پهٔ توګه، د محاسب کار، د اداري کار، یا د ښوونې مرستیال. رضاکارانه کار زیاتره وخت ډېره هوساینه لري او کېدی شي چې تاسو له د خپلو هنرونو د کچې سره سم کار نهٔ وي کول. د نورو معلوماتو لپاره د دې لاربښود برخه وګورئ چې د رضاکارانه کار کوونې پهٔ اړه ده .

## زهٔ به د خپلې ژوندلار پهٔ وروستي (لرغون) کښې وقفې پهٔ څهٔ ډول سره بیان کړمه؟

که تاسو پهٔ خپلې CV کښې یا پهٔ غوښتنلیک فارم کښې وقفې پرېښودی نو کار ورکوونکی کېدی شي چې داسې فکر وکړي چې تاسو دهغهٔ نه څهٔ پټوی. که د تاسو د ژوندلار لرغون نه یوازې څو میاشتې ورکې وي نو تاسو کولی شی چې خپل کار یا زده کړې د کالونو پر مېچه باندې وړاندې کړی نه که د میاشتو پهٔ مېچه باندې.

د مثال پهٔ توګه تاسو لیکلی شی:

- سیکریټر، 1998 - 2001
- د مدیر ځاني مرستیال، 2002 - 2004

پر ځای د:

- سیکریټر، سیتمبر 1998 – اکتوبر 2001
- د مدیر ځاني مرستیال، مارچ 2002 – نومبر 2004

که چېرې وقفه د څو میاشتو څخه اوږد وي نو بیا پهٔ مثبت ډول سره د دې بیان کولو کوښښ وکړی. کېدی شي چې تاسو رضاکارانه کار کښې یا د کوچنیانو پهٔ خسمانه کښې بوخت پاتې شوي وی. دا خبره یقیني کړی چې تاسو هغه ټولې تجربې پکښې شاملې کړی کومې چې تاسو تر لاسه کړئې وي یا هغه ټول هنرونه پکښې شامل کړی کوم چې تاسو پر مخ بوتلي وي، لکه څنګه چې د انګلیسي زده کړه.

## زهٔ به پهٔ بند یا توقیف کښې تېر کړي وخت پهٔ اړه څهٔ ډول بیان وکړمه؟

تاسو له پهٔ کار دي چې که ممکنه وي نو پهٔ دې لړ کښې خبرې اترې کولو لهٔ پاره **د سلاکار سره خبرې وکړی**. تنظیمونه کوم چې د کډوالو سره کار کوي به دې خبرې پهٔ اړه همدردي ولري. نور کار ورکوونکي پهٔ نورو هېوادونو کښې حالاتو باندې پهٔ ښهٔ ډول سره پوه نهٔ شي چېرته چې توقیف کوونه ډېر تواتر سره پهٔ کار کښې راوستلی شي.

که تاسو یوازې د څو میاشتو لهٔ پاره توقیف شوي وی نو تاسو کولی شی چې پهٔ خپل غوښتنلیک کښې د دې پهٔ اړه تذکره نهٔ وکړی. که تاسو د ډېرې مودې لهٔ پاره پهٔ جېل کښې وی نو دا مشکله شي چې وقفه پکښې پرېږدی. تاسو کولی شی چې د خپل توقیف د وخت پهٔ اړه نېټې ورکړی او ورته بیان کړی چې لهٔ څهٔ وجې څخه تاسو پهٔ جېل کښې وی، د مثال پهٔ توګه، "زهٔ د خپلو سیاسي عقائدو لهٔ امله جېل کښې بند کړی شوی وومه".

## زهٔ پهٔ سیاسي کړنو کښې خپله شاملېدنه پهٔ څهٔ ډول بیان کولی شمه؟

د هر کس وضع د بل څخه مختلفه وي نو لهٔ دې کبله پهٔ دې اړه عمومي مشوره ورکول مشکل دي. تاسو پهٔ خپله د ټولو ښه پرېکړه کولی شئ چې د خپلو سیاسي کړنو پهٔ اړه څنګه حواله ورکړئ او څومره تفصیلات وړاندې کړئ. د تاسو سیاسي کړنې تاسو لهٔ پاره داسې موقع وړاندې کولی شي چې د خپلو وړ هنرونو، تجربې او پوهې څرګندونه وکړئ. تاسو کولی شئ دا ډول پرېکړه وکړئ چې خپلې سیاسي کړنې پهٔ ډاګه سره څرګندې کړئ. تاسو دا هم کولی شئ چې پهٔ غېر مخصوص ډول سره یې څرګندې کړئ، د مثال پهٔ توګه:

- د بشري حقوقو تنظیمونو، تجارتي سازمانونو، ښځینه تنظیمونو، د اقلیت د حقوقو تنظیمونو لهٔ پاره پهٔ رضاکارانه توګه باندې کار کونه
- پهٔ کوچنیانو باندې کار کولو او د ښځینه ختنې پر ضد مهم چلول
- د ټولنې لهٔ پاره کار

www.advice-resources.co.uk

که تاسو نهٔ پوهېږئ چې ایا د خپلو سیاسي کړنو پهٔ اړه پهٔ ډاګه سره څرګندونه پهٔ کار ده که نه او یا دا چې خپل د حاصل کړو هنرونو او پوهې پهٔ اړه څنګه څرګندونه وکړئ، نو د یو سلاکار سره مشوره وکړئ.

تاسو هغه ټول هنرونه او وړتوبونه چې د سیاسي کړنو پهٔ ترڅ کښې مو تر لاسه کړي وي څرګندولی شئ. ځینې مثالونه دغه دي:

- د واقعاتو سنبالول
- د وګړو انتظام کول
- مالي انتظام
- د ډېرو محدودو سرچینو پروژو انتظام کول
- ګوښه شویو ټولګیو ته ملاتړ ورکول
- بدلون ته ګړندی غبرګون
- خبرې اترې
- د شخړو هوارونه

تاسو هغې پوهې او تفاهم ته هم راجع کولی شئ چې تاسو د خپلو سیاسي کړنو پهٔ ترڅ کښې پر مخ بوتللي وي، لکه چې:

- د بشري حقوق مسلې
- پراخ سیاسي تناظرات، یا اقتصادي، ټولنیز، کلتوري او مدني مسلې
- نړیوالي او ملي د چاپیریال مسلې
- د مساوات او تنوع مسلې

## ما ته څهٔ کول پهٔ کار دي که چېرې زهٔ د هغهٔ ځای لهٔ پاره کوم ته چې زهٔ غوښتنلیک ورکوومه د غوښتنو نه سپوا وړتوبونه ولرمه؟

د کار پهٔ تفصیل او د کس پهٔ اړه سمتیاوو باندې ښهٔ مرتکز شی. کار ورکوونکي ته دا څرګند کړی چې تاسو دا کار ډېر پهٔ ښهٔ ډول سره کولی شی او دا چې تاسو پهٔ ځانګړي توګه سره د هغوی لهٔ پاره د کار کولو لیوالتیا لری. تاسو ته پهٔ کار دي چې دا ورباندې څرګند کړی چې تاسو د هغهٔ کار پهٔ اړه وقف شوې یاست کوم لهٔ پاره چې تاسو غوښتنلیک ورکړی دی.

## د مرکو پهٔ اړه ما ته څهٔ ډول پوهه لرلو لهٔ پاره اړتیا ده؟

مرکه (interview) لهٔ تاسو سره داسې موقع ده چې تنظیم باندې دا خبره څرګنده کړی چې تاسو هغوی لهٔ پاره څهٔ کولی شی او چې د هغوی پهٔ اړه نور معلومات تر لاسه کړی. تاسو به د تنظیم لهٔ اړخه د یو یا څو چارندویو سره و وینی او تاسو نه به څهٔ پوښتنې وکړی شي. دا پوښتنې به د کار تفصیل، د کس پهٔ اړه سمتیاوې او د تاسو د غوښتنلیک پهٔ اړه وي.

که تاسو د مزد لرونکي کار لهٔ پاره غوښتنلیک ورکوی نو مرکه به رسمي وي. د رضاکار کار لهٔ پاره ښکاري چې مرکه به ډېره هوسائنه، او غیر رسمي وي. یاد ساتنچې:

- خپل ځان پهٔ عملي توګه او ذهني توګه سره چمتو کړی
- د خپلو هنرونو او د تجربو مثالونه ور کړی
- د پوښتنې د بیا وینا لهٔ پاره یا پهٔ نورو ټکیو کښې وینا لهٔ پاره غوښتنه وکړی که چېرې تاسو پهٔ پوښتنې باندې نهٔ وی پوهه شوي.

## آیا زهٔ د مرکې نه وروسته د هغوی نه د خپلې مرکې پهٔ اړه د هغوی خیالات لهٔ پاره غوښتنه کولی شمه؟

دا **عمومي خبره ده** چې د مرکې پهٔ اړه دُ هغوی خیالات پهٔ اړهٔ (feedback) غوښتنه وکړی. دې کښې دا شامل وي چې د مرکې ټولګې څخه یو غړی تاسو ته و ښائي چې تاسو پهٔ مرکه کښې څهٔ پهٔ ښهٔ ډول سره وکړل او دا چې تاسو نور ښهٔ کولو پهٔ لړ کښې څهٔ کولی شی. دا د ټیلیفون د لارې هم کېدلی شي یا بیا د لیک د لارې هم کېدلی شي. که تاسو پهٔ مرکه کښې ښه ښودنه ور نهٔ کړی نو تاسو ته به پهٔ کار وي چې نور ځان چمتو کړی. کېدی شي چې تاسو خپل دُ مرکې تخنیکُ پهٔ اړه هم نورو روزنو ته اړتیا ولری. د دې لهٔ پاره تاسو کولی شی چې د ژوندلار د سلاکار نه غوښتنه وکړی چې هغه تاسو سره د ټوکو مُرکه وکړي.

## زۀ به څۀ وکړی شمه که چېرې ما ته د مرکې لۀ پاره وینا نۀ وکړی شي؟

- **خپل غوښتنلیک ته یو ځل بیا وګورئ.** آیا دا داسې ښرګندوي چې تاسو هغه هنرونه لرئ د کومو لۀ پاره چې تنظیم غوښتنه کوي؟
- یاد ساتئ چې ډېر ځایونه داسې وي چې پۀ هغو باندې ډېره سخته مقابله وي. دا خبره یقیني کړئ چې غوښتنلیک ور لېږلو نه وړاندې د کار، د شرکت او د تولیدبنې پۀ اړه ښېړنه وکړئ.
- **یوازې پۀ هغو ځایونو (کارونو) باندې خپل پام متمرکز کړئ کوم چې تاسو پۀ رېښتیا سره غواړئ.**

## زۀ د خپل ځاني کار پۀ اړه نور معلومات چېرته تر لاسه کولی شمه؟

کېدی شي چې تاسو داسې پرېکړه وکړئ چې تاسو د بل کار ورکوونکي لۀ پاره کار کوولو پر ځائ د خپل ځان لۀ پاره کار کول غواړئ. د کډوالو ځني اژانسونه د کاروبار د پیل کولو پۀ اړه ځانګړي کورسونه چلوي. د تاسو پۀ ډګر کښې د هېڅ ډول کورسونو پۀ اړه د تفصیلاتو لۀ پاره د خپل ځائي **One Stop Service** سره پوښتنه وکړئ. زیاتره وړاندې کوونکي تاسو ته مشوره او مرسته درکولی شي خو کېدی شي چې تاسو داسې محسوس کړئ چې هغوی د تاسو ځانګړي حالاتو پۀ اړه پوهه نۀ لري.

دا ډېره مهمه خبره ده چې تاسو خپل ځاني کاروبار پیل کولو پۀ اړه ډېر د پام سره پلان جوړ کړئ او پۀ دې لړ کښې مرسته هم تر لاسه کړئ. د کاروبار د پیل کولو لۀ پاره د شتمنیو موندل یو ډېر ستونزناک کار کېدلی شي. دا یو ښه نظریه ده چې د خپل **ځائي د کاروبار د اژانس (Local Enterprise Agency)** سره تړاؤ ونیسئ. تاسو د خپل ځائي د کاروبار اژانس پۀ اړه معلومات د دې ویبځي نه تر لاسه کولی شئ: www.nfea.com. خپل ځاني کاروبار پیل کولو پۀ اړه تاسو نورې خبرې پۀ دې ویبځي باندې لوستلی شئ www.refugeesintobusiness.org.uk. دا سرچینې پۀ ځانګړي توګه سره د کډوالو لۀ پاره دي، هم لۀ دې کبله هغو مسلو ته پام وکړئ کومو سره چې تاسو دخپل ځاني کاروبار پیل کولو په وخت کې مخ کېدی شئ. د کډوالو تنظیمونو لۀ پاره لارښود یا اوزار کټ (toolkit) هم شته دی.

تاسو ته بۀ کار وي چې خپل ځاني کاروبار پیل کوولو لۀ پاره به تاسو ته خورا ډېر د معلوماتو لۀ پاره لوستنه کول وي. کېدی شي چې تاسو هغه معلومات چې تاسو ورته اړتیا لرئ د دې ویبځایونو تر لاسه کړئ:

- www.businesslink.gov.uk
- http://small-business-advice.org/

د **Prince's Trust** هم د 18-30 کلونو پورې کسانو ته د کاروبار د پیل کولو لۀ پاره مرسته ورکوي. پۀ دې کښې مشوره او هم مالي ملاتړ شاملېدلی شي. لاربنوونه د دوی ویبځي باندې شته د کوم ځایلیک چې دا دی
www.princes-trust.org.uk یا تاسو پۀ 842 842 0800 باندې ټېلیفون ورته کولی شئ.

د تاسو د کار موندنې مکتب کېدی شي چې تاسو سره مرسته وکړی شي. د خپل سلاکار سره پۀ دې اړه خبرې وکړئ. که تاسو وړتیا لرئ او د کارموندنې د مکتب پۀ ځنې پروګرامونو کښې ګډون وکړئ، لکه څنګه چې New Deal، نو کېدی شي چې تاسو زیاتې مرسته تر لاسه کړئ.

www.advice-resources.co.uk

ADVICE RESOURCES

# د بهرني هېوادونو څخه تر لاسه کړي شوي
# وړتوبونه او تجربه په کار کښې راوستنه

## د کډوالو او پناه غوښتونکو لهٔ پاره لاربنود



### آيا د بهرنيو هېوادونو څخه تر لاسه کړي شوي زما د تعليمي وړتياو سندونه پهٔ برتانئې کښې د منلو وړ ګرزېدلی شي؟

د بهرني هېوادونو څخه چې تاسو کومه تجربه او وړتوبونه راوړی هغه د برتانئې د پوهنځيو، پوهنتونونو او کار ورکوونکو لهٔ اړخه د منلو وړ ګرزېدلی شي. دا ډېره مهمه ده چې که چېرې تاسو داسې وړتوبونه لری چې هغه تاسو د برتانئې نه بهر تر لاسه کړي وو نو تاسو ته پهٔ کار دي چې دا معلومه کړی چې هغه د برتانئې وړتوبونو سره څنګه ډول باندې سمون خوري. که چېرې تاسو د خپلو وړتوبونو د ثبوت پهٔ اړه هېڅ لاسوندونه هم نهٔ لری، نو کېدی شي چې تاسو د خپلې تجربې لهٔ پاره مننه تر لاسه کړی. خو د مننې تر لاس کوونه اسان کار نهٔ دی او دا ډېر د ناکرارۍ باعث هم کېدلی شي. که تاسو پهٔ رسمي توګه سره مننه تر لاسه کولو کښې پاتې راشی نو تاسو بيا هم کولی شی چې دخپلو محصولاتو پهٔ ترڅ کښې اعتراف، پوهه او ستائينه تر لاسه کولی شی.

### ولې زهٔ خپل د بهرنيو هېوادونو څخه اخيستلي شوي وړتوبونه د برتانوي وړتوبونو سره موازنه کړمه؟

د وړتوبونو موازنې د لارې تاسو کولی شی چې خپل **د راتلونکي پلان جوړ کړی** او **نورو لهٔ پاره به دا اسانه شي چې د تاسو د زده کړو او روزنو د ورستيو پهٔ اړه پوهه ولري**، پهٔ ځانګړې توګه سلاکاران، د زده کړو ادارې او کار ورکوونکي.

### زهٔ به خپل د بهرني هېواد والا وړتوبونه پهٔ څهٔ ډول سره موازنه کړی شمه؟

د موازنې رسمي بهير نه تېرېدلو لهٔ پاره به تاسو ته پهٔ کار وي چې د خپل وړتوبونو پهٔ اړه **لاسوندونه ولرې**. **NARIC** پهٔ دې اړه مشوره ورکوي چې تاسو خپل نړيوال وړتوبونه د برتانوي وړتوبونو سره څنګه موازنه کولی شی. پهٔ ډېرو تنظيمونو کښې سلاکاران شته څوک چې د NARIC's معلوماتو ته رسېدنه لري او تاسو ته د تاسو د وړتوبونو د سمون خوړلو پهٔ اړه پهٔ وړيا توګه سره مشوره درکولی شي. تاسو دې ويبځي ته هم ور تللی شی:

- www.naric.org.uk (تعليمي يا مسلکي وړتوبونه)
- www.uknrp.org.uk (مسلکي وړتوبونه)

NARIC کډوالو ته پهٔ **0870 990 4088** باندې د ټېليفون د لارې **د موازنې پهٔ اړه وړيا مشوره** ورکوي. تاسو ته پهٔ کار دي چې هغوی ته لاندېني معلومات ورکړی:

- د وړتوب سرټکي
- د وړتوب ورکوونکي ادارې نوم
- د کورس د مودې اوږدوالی
- د وړتوب تر لاسه کولو نېټه

NARIC ليکلئ شوی څرګندليک هم درکولی شي کوم کښې دا ښودلي شوي وي چې تاسو وړتوب د برتانوي سره پهٔ څهٔ ډول باندې موازنه لري. د موازنې څرګندليک (Statement of Comparability) (کوم باندې چې 47.00 برتانوي پونډ خرڅه راځي يا 39.95 برنانوي پونډ که چېرې تاسو پر کرخه غوښتنليک ورکړی) يو داسې ليک وي چې پهٔ هغهٔ کښې دا بيان شوي وي چې د NARIC پهٔ فکر د برتانئې کوم وړتوبونه د تاسو د وړتوبونو سره سمون خوري.

www.advice-resources.co.uk

## ما ته څهٔ کول پهٔ کار دي که چېرې زهٔ ګنم چې زما وړتوب ته ټيټ ارزښت ور کړی شوی دی؟

د NARIC **لهٔ اړخه ټاکنې يوازې د نږدې لارښود پهٔ اړه حسابيږي او دا د مطلق اړوونو پهٔ توګه نهٔ شي اخيستلی.** بيا هم، خلک کله کله مايوسه شي که چېرې ټاکنه د دوی د توقعاتو څخه لاندې راشي. که تاسو ګڼی چې د ټاکنې پهٔ تر ځ کښې د تاسو د وړتوب ارزښت پهٔ سنجيده توګه سره لاندې راغلی دی نو تاسو ته پهٔ کار دي چې د پهٔ دې اړه د **خبرې اترې کولو لهٔ پاره** د **NARIC** سره پهٔ 0870 990 4088 باندې **تړاؤ ونيسئ.**

ياد و ساتی چې د تاسو د وړتوب پهٔ لړ کښې **نور عوامل هم مهم دي** لکه څنګه چې پهٔ کورس کښې ور ننوتلو پهٔ اره د مقابلې کچه، د کورس موده او محتويات، يا د تاسو پهٔ هېواد کښې د پوهنتون شهرت. تاسو کولی شی چې پهٔ دې اړه د خبرو اترو پهٔ دوران کښې کار ورکوونکي، پوهنځي ي يا پوهنتون ته تفصيلات ورکړی.

## زهٔ خپل مسلکي وړتوبونه څنګه موازنه کولی شمه؟

که تاسو د خپل هېواد څخه مسلکي وړتوب لری (د مثال پهٔ توګه ډاکټر، وکيل، مهندس يا ښوونکی)، نو تاسو له پهٔ کار دي چې **مسلکي ټولنې سره تړاؤ ونيسی.** دوی به تاسو ته و ښائي چې د تاسو وړتوب د برتانوي وړتوب سره څنګه موازنه خوري. مسلکي ټولنه يو داسې تنظيم وي چې هغه د مسلک پهٔ اړه عوامل د قوانينو لاندې راولي.

مسلکي ټولنې د بهرنيو هېوادونو څخه وړتوبونو د منلو پهٔ اړه خپل نظامونه لري. پهٔ دې کښې دا هم شاملېدلی شي چې د NARIC يا د بلې يوې لارې تر مخ د تاسو د وړتوبونو پهٔ اړه ټاکنه تر لاسه کړي.

## د خپلو وړتوبونو پهٔ اړه زهٔ ولې منڼه تر لاسه کړمه؟

که تاسو د خپل بهرني وړتوبونو پهٔ اړه موازنه تر لاسه کړئې وي، نو تاسو کولی شی چې دا معلوم کړی آيا تاسو د دغو لهٔ پاره هېڅ ډول منڼه تر لاسه کولی شی. دا کېدی شي چې **د کورس لهٔ پاره د ورننوتنې د غوښتنو بشپړه کولو سره تړاؤ ولري،** يا بيا يو **کار ورکوونکي ته د ا ثابتولو** سره تړاؤ ولري چې تاسو دا کار کول شی.

### د خپلو وړتوبونو لهٔ پاره پهٔکار کښې منڼه تر لاسه کوونه

د ځنې مسلکونو لهٔ پاره دا قانوني غوښتنه ده چې که پهٔ برتانئې کښې کار کول غواړی نو د هغوی د ټولنې، سازمان يا کونسل لهٔ اړخه د تاسو د وړتوب منظورې وشي. ښوونه، معمارې او د روغتيا زياتره مسلکونه په دې ډلې کښې راځي. د دې مطلب دا دی چې تاسو له به پهٔ کار وي چې هغه ټولې غوښتنې بشپړه کړی کومې چې د مسلکي ټولنې لهٔ اړخه د ثبت کولو لهٔپاره ځای پر ځای شوئې دي.

د نورو مسلکونو لهٔ پاره دا قانوني اړتيا نهٔ ده خو کېدی شي چې دا مهم وي چې د مسلکي ټولنې لهٔ اړخه منڼه او غړيتوب تر لاسه کړی (د مثال پهٔ توګه مدني مهندسان او د برېښنا تخنيککاران). که منڼه تر لاسه کولو پهٔ لړ کښې څهٔ ډول قانوني اړتيا نهٔ وي، نو بيا دا پهٔ کار ورکوونکي پورې ده چې آيا هغوی د تاسو بهرني وړتوبونه منې او که نه. هغوی کولی شي چې د NARIC ټاکنه وګوري يا د تاسو د کار تجربې او مرکې باندې مرتکز شي.

### پهٔ زده کړو کښې د خپلو وړتوبونو لهٔ پاره منڼه تر لاسه کوونه

که تاسو غواړی چې پهٔ لوړو زده کړو کښې د کورس لهٔ پاره غوښتنليک ور کړی (او د ځنې نور وړاندې زده کړو کورسونو لهٔ پاره) نو تاسو له به پهٔ کار وي چې د خپل وړتوبونو کچه څرګنده کړی. که چېرې NARIC د تاسو وړتوبونه د کورس لهٔ پاره د ورننوتنې د غوښتنو سره پهٔ سمون کښې وګڼي، نو ښکارې چې دا به ومنل شي. که نه، نو د پوهنتون يا د پوهنځي سره خبره وکړی پهٔ دې چې کېدی شي دوی لچک ولري، پهٔ ځانګړئې توګه سره د لويانو زده کوونکو لهٔ پاره (چې د 21 کلونو نه عمر پورته وي).

## زهٔ د خپلې تجربې لهٔ پاره منڼه څنګه تر لاسه کولی شمه؟

پهٔ رسمي توګه د تاسو د وړتوبونو د منلو لهٔ پاره دې ته اړتيا وي چې تاسو بريليکونه يا ترانسکرپټونه ولری. د تجربې لهٔ پاره منڼه تر لاسه کولو ځو ځنې لارې دي چې کومې تاسو سره شته که چېرې تاسو خپل لاسوندونه د ځان سره نهٔ لری.

### دوسيه

دوسيه (portfolio) **د لاسوندونو او نورو بېلګو يوه منتظمه ببخچۍ وي** کوم چې دا ښائي چې پهٔ تېرو کښې تاسو څهٔ کړي دي. دا د ډېرو **هنرونو او تجربو** پهٔ اړه **بېلګې** لري. تاسو ته پهٔ کار دي چې خپله دوسيه پرنبېټه (updated) ساتی او د دې محتويات د کار راوستنو سره موافق کړی. د دوسيه جوړولو ګټې پهٔ لاندېني ډول دي:

- تاسو خپل هنرونه او لياقتونه و پېژنی

- تاسو خپل ځان په ښه نه ښه ډول سره ښایئ
- دا ډېره اسانه وي چې مهم معلومات نورو خلکو ته څرګند کړی

کېدی شي تاسو خپله دوسیه د ژوندلار سلاکارانو ته، پوهنځیو او پوهنتونونو ته، کار ورکوونکیو ته یا خپل د One Stop Service ته د ښودلو لۀ پاره اړتیا ولرئ. تاسو پوهنځي یا پوهنتون ته غوښتنلیک ورکولو لۀ پاره، کله چې تاسو د رضاکارانه یا مزد لرونکي کار لۀ پاره پلټنې کوئ، یا د خپل ځاني پرمختګ لۀ پاره دوسیه پۀ کار کېدی راوستلی شی.

د تاسو پۀ دوسیي کېدی پۀ کار دي چې د تاسو د هېڅ یو مفید لاسوند نقلونه پراته وي کوم چې دا څرګندوي چې تاسو څۀ ډول د زده کړو او د کار تجربې لری. د هېڅ ډول بریلیکونو نه پر څنګ، تاسو دا هم پکښې شاملولی شی:

- CV
- د کار ورکوونکیو لۀ اړخه ورګرزووني (مزد لرونکي یا رضاکارانه)
- پۀ پوهنځي \ پوهنتون کښې وېلي شوي د یوکیو \ موډیولو ترانسکرپتونه
- د تیسس، دزرټیشنز یا د څېړنو پروژې کومې چې تاسو کړئ وي پۀ اړه واړۀ لنډیزونه (چې ورته ابسټرکټ وائي)
- د تخلیقي کارونو تصویرونه (د فن ماهرینو، طرح کوونکو، معمارانو لۀ پاره)
- د کړني پلانونه کوم چې تاسو د خپل سلاکار سره جوړ کړي وي
- لۀ تاسو اړخه یا د تاسو پۀ اړه د ورځپانو یا مجلو مضمونونه
- د تعلیمي یا کار کښې د تر سره کوونو هېڅ بل یو ثبوت

**د وروستي تجرباتي زده کړو پۀ اړه ټاکنه (APEL)**

APEL کښې دا شامل دي چې **هغو زده کړو ته کتنه وشي کومې چې د تجربې د لارې تر لاسه کېږي**. دا مزد لرونکی یا رضاکارانه د کار تجربه، مشغلي، د ژوند تجربات یا روزني کومو کښې چې تاسو ګډون کړی وي خو د هغو پۀ اړه بریلیک نۀ لری، کېدلی شي. د APEL سره تاسو کولی شی چې د کارکردګی، پوهې، هنرونو او پوهېدنې لۀ پاره منته تر لاسه کړی. دا پۀ نور ورائدې زده کړو او لوړو زده کړو کښې پۀ کار راوستلی شي. دا هېڅ معنی نۀ لري چې دا زده کړه پۀ کوم ځي کښې، پۀکومه ژبه کښې، یا دزده کړې سره تړلې څۀ ډول حالات کښې تر لاسه شوئي وه.

دخپلو وروستیو تجربو پۀ اړه ټاکنه تر لاسه کولو لۀ پاره تاسو ته به پۀ کاروي چې دوسیه وړاندي کړی، لکه څنګه چې پورته پۀ دې اړه تفصیل ورکړی شوی. دتاسو دوسیه به د څلورو غټو معیارونو پۀ ترڅ کښې و ټاکله شي.

- آیا دا لاګو او د باور وړه ده؟
- آیا تاسو د خپلو دعوو د ملاتړ پۀ ترڅ کښې کافي بېلګې وړاندي کړئي دي؟
- آیا دا بېلګې پۀ روڼ ډول سره د تاسو خپلې لاس ته راوړنې دي؟
- آیا دا پوهه اوسنی یا ډېره زړه ده؟

**رضاکارانه کار کوونه**

رضاکارانه کار کول یوه بله خورا ښه لار ده د کومې پۀ لړ کښې چې تاسو خپلې تجربې لۀ پاره منته تر لاسه کولی شی. د رضاکار پۀ توګه تاسو کولی شی چې خپل هنرونه او لیاقتونه په کار کښې راولی او دا ثابتولو لۀ پاره د برتانئې ورګرزووني تر لاسه کړی چې تاسو څۀ کولی شی. دا به ستونزناکه خبره وي چې د خپلو وړتوبونو او تجربې پر کچه باندې د رضاکار پۀ توګه کار وکړی خو پۀ یو ډګر کښې هېڅ ډول پوهه پۀ راتلونکي کښې تاسو لۀ پاره ګټور ګرزېدلی شي. د مثال پۀ توګه، که تاسو د روغتیا مسلک لری نو بیا پۀ روغتون کښې د رضاکار پۀ توګه کار کولو سره به تاسو ته ډېره پوهه تر لاسه شي چې پۀ برتانئې کښې د روغتیا نظام څنګه کار کوي.

**د کار د تجربې لۀ پاره منته تر لاسه کول**

کېدی شي چې تاسو پۀ یو ځانګړي کار کښې تجربه لری، لکه د نل غزوونه یا د خښتو دیوال جوړونه، خو پۀ دې اړه تاسو هېڅ ډول وړتوبونه یا ورګرزووني نۀ لری چې د هغو لۀ مخې ثابت کړی شی. کېدی شي چې دا ممکن وي چې تاسو د کار دغه خپله تجربه د منني وړ و ګرزوی او هم پۀ هغه وخت کښې ورسره وړتوب هم تر لاسه کړی. که تاسو د خپل کار پۀ ډګر کښې کار موندلی وي نو کېدی شي چې تاسو د دې جوګه شی چې د OSAT (د کار پر ځائ ټاکنه او روزنه) د لارې وړتوب واخلی. دا به د تاسو د کار ورکوونکي د لارې انتظام کېږي. یو ټاکونکی به د تاسو د کار ځي ته در شي چې هغه هنرونه پر نخښه کړي چې کوم تاسو لری او هم پۀ هغو هنرونو کښې که څۀ کېپونه وي نو هغه هم پر نخښه کړی. که تاسو بریالی شی نو تاسو ته به NVQ در کړی شي. د دې سکیم پۀ اړه د نورو معلوماتو لۀ پاره تاسو کولی شی چې دې ویبځي ته ولاړ شی: www.citb-constructionskills.co.uk

ADVICE RESOURCES



# بيا وړتوبونه

## د کډوالو او پناه غوښتونکو لۀ پاره لارښود

### بيا وړتوبونه څۀ ته وائي؟

که تاسو يو کواليفائ شوی مسلکي ياست، نو تاسو کولی شی چې دامعلومه کړی آيا تاسو پۀ برتانئې کښې خپل کار کولی شی، يا دا چې تاسو ړومبی بياوړتوب اخيستنې (requalify) ته اړتيا لری. بياوړتوب (Requalification) هغه **بهير** دی پۀ کوم کښې چې **د قانون د لارو سنبال شوي مسلکونو لۀ پاره تاسو ته پيروي کول دي** چې تاسو ته **اجازه درکړی شي** چې پۀ برتانئې کښې **پۀ دغه مسلکي ډګر کښې کار وکړی شی** (دمثال پۀ توګه، يو څو ځنې ازموينو کښې بريالی شی يا څو کورسونه وکړی). د قانون د لارو نۀ سنبال شويو مسلکونو لۀ پاره تاسو پۀ برتانئې کښې پۀ قانوني توګه سره کار کولی شی خو بياوړتوب تر لاسه کولو سره کېدی شي چې تاسو لۀ پاره کار موندل اسان شي. که تاسو د کار کولو پۀ اجازه نۀ هم درلودی، تاسو خپل وخت پۀ ښۀ توګه سره پۀ کار کښې راوستلی شی که چېرې تاسو د خپل مسلک پۀ اړه څېړنې وکړی او د بياوړتوب تر لاسه کولو د پوړونو لۀ پاره چمتو والی پېل کړی. **د سلاکار يا د مسلکي ټولنې لۀ اړخه مشوره او لارښوونه ډېر مهم دي**

### ما ته د څۀ پۀ اړه فکر کول پۀ کار دی؟

دا مهم دي چې تاسو ياد وساتی چې :

- بياوړتوب خورا اوږد وخت اخيستلی شي
- بياوړتوب يو ډېر د ګران بهير کېدلی شي او دي لۀ پاره ډېرې لړې بسپنې شته
- د انګليسي لوړ کچ ته اړتيا وي
- که تاسو بياوړتوب تر لاسه هم کړی، نو کېدی شي چې تاسو بيا هم کار موندلو کښې ستونزو سره مخ شی
- تاسو دې ته هم اړتيا لری چې پۀ برتانئې کښې د نظام او د کار کوني ژوند پۀ اړه زده کړه وکړی
- تاسو يو ريښتوني پلان ته اړتيا لری چې تاسو سره دا پرېکړه کولو کښې مرسته وکړی شي چې آيا تاسو بياوړتوب پۀ بريالي توګه سره تر لاسه کولی شی او دا چې دغه به څومره وخت واخلي.

### د قانون د لارو سنبال شوي او نۀ سنبال شوي مسلکونه کوم کوم دي؟

پۀ برتانئې کښې ډېر مسلکونه د قانون د لارې سنبال شوي دي **(regulated)**، لکه څنګه چې طب، ښوونه يا معماري. د دې مطلب دا دی چې **بې لۀ تسجيل کېدلو مسلکي کار کو ل د قانون پر ضد دی**. که د تاسو مسلک د قانون د لارو سنبال شوی وي نو بيا تاسو دې ته اړتيا لری چې د ثبت کېدلو لۀ پاره د مسلکي ټولنې معيارونه بشپړ کړی. دا معيارونه د هر مسلک لۀ پاره به بېلابېل وي.

ځنې مسلکونه د قانون د لارو نۀ دي سنبال شوي **(unregulated)**، لکه څنګه چې مهندسي يا اقتصاد. که د تاسو مسلک د قانون د لارو سنبال شوی نۀ وي، **نو تاسو پۀ برتانئې کښې مسلکي کار کولی شی**. خو پۀ ځنې کېسونو کښې، داسې عامې ازموينې شته چې زياتره کار ورکوونکي يا د تساو کستومران تاسو نه دا توقع کوي چې تاسو دا ډول ازموينئ پاس کړئې وي. د دغو ازموينو د پاس کولو سره کېدی شي چې تاسو د دې جوګه شی چې د هغو مسلکي ټولنو سره ثبت شی چا چې دغه ازموينې جوړې کړئې وي.

### مسلکي ټولنه څۀ ته وائي؟

مسلکي ټولنه (professional body) تاسو ته **د بياوړتوب د بهير پۀ اړه مشوره درکولی شي**، کوم چې پۀ ځينو کېسونو کښې ډېره ګړکېچنه کېدلی شي او پۀ نورو کښې ساده. مسلکي ټولنې دخپلو خدمتونو او کړنو کښې توپير لري. دوی **اکثره قانوني بڼه لري او د مسلک لۀ پاره معيارونه ټاکي**. نورې بس يوازې د ملاتړ تر حد پورې وي او د غړيتوب خدمت وړاندې کوي. د خپلې مسلکي ټولنې پۀ اړه معلومات تر لاسه کولو لۀ پاره د ټولو نه ښۀ ځای انټرنيټ دی.

www.advice-resources.co.uk

## آیا بیاوړتوب خپل دومره ارزښت لري؟

بیاوړتوب تر لاسه کول **ډېر مشکل او نا کرار کوونکی** کېدلی شي. تاسو له د مطالبو په اړه په پام سره فکر کول په کار دی. دا ډېره مهمه خبره ده چې تاسو یو تفصیلي د کړني پلان ولری او یو سلاکار تاسو سره په دې کښې مرسته کولی شي. تاسو له په کار دي چې د **سلاکار سره خبرې اترې وکړی** چې آیا تاسو لهٔ پاره بیاوړتوب د تولو نه ښه لار ده.

کېدی شي چې تاسو و غواړی چې خپل عمر او مالي حالات په پام کښې ونیسی کله چې تاسو د بیاوړتوب تر لاسه کولو په اړه فکر کوی. دا هم په پام کښې وساتې چې تاسو د دې نه پرځنګ نور څهٔ کولی شی. ډېر خلک داسې پرېکړه وکړي چې هغوی لهٔ پاره به دا ښه وي چې بله لار خپله کړي، لکه څنګه چې د دې سره تړلي مسلک کښې کار وکړي یا خپله ژوندلار بدله کړي.

تاسو ته په کار دي چې ځان نه تپوس وکړی:

- دا به څومره خرڅه ولري؟
- دا به زهٔ په څومره موده کښې بشپړه کړم؟
- په برتانئي کښې زما د مسلک په اړه غوښتنه څومره ده؟
- آیا زما هنرونه برتانئي ته د لېږدېدلو وړ دي؟
- د کارونو په اړه د مقابلې کچ څهٔ دی؟

## د بیاوړتوب پهٔ لوري زهٔ څه ګامونه پورته کولی شمه؟

که تاسو د بهیر په اړه پوره څېړنه کړئي وي او بیا مو دا پرېکړه کړئي وي چې تاسو په خپل مسلک کښې د بیاوړتوب تر لاسه کول غواړی نو داسې ځنې کړني شته چې هغه تاسو پیل کولی شی، که چېرې تاسو د کار پهٔ اړه اجازه هم نهٔ لری. پهٔ خپل مسلک کښې هنرونو ته وده ورکوونه به تاسو لهٔ پاره پهٔ راتلونکي کښې مفیده وګرزي، که تاسو چېرته هم وی.

تاسو کولی شی چې په لاندېنیو ډګرونو باندې مرتکز شی:

- خپل د انګلیسي او تړاؤ جوړولو په لړ کښې خپل هنرونه ښهٔ کړی
- د کار پهٔ اړه تجربه تر لاسه کړی
- د خپل مسلک پهٔ اړه د لوستي ټولګي کښې حاضرېږی
- د خپل مسلک پهٔ اړه ډیټابېس کښې ګډون وکړی (اوسني وخت کښې د طبیبانو، د غاښونو طبیبانو، نرسانو او مهندسانو لهٔ پاره شته)
- د'برجنګ' پهٔ اړه کورس کښې حاضر شی
- خپله دوسیه جوړه کړی
- نیټورکنګ وکړی
- خپلو هنرونو پهٔ اړه ټاکنه وکړی
- پهٔ خپل مسلک کښې د کار تفصیل وګوری

## بیاوړتوب پهٔ مقابل کښې نوري کومې لارې شته؟

د بیاوړتوب پهٔ مقابل کښې نوري لارې شته، لکه څنګه چې **پهٔ تړلي ډګر کښې کار کول** یا **خپله ژوندلار** بدلول. دا هم اساني خوښنې نهٔ دي، او دا خبره ډېره مهمه ده چې تاسو د څهٔ ډولو پرېکړه کولو نه وړاندې د ژوندلار لهٔ پاره د سلاکار سره مشوره وکړی. هغوی کولی شي چې تاسو سره د تاسو هنرونه او پوهه پهٔ نخښه کولو کښې مرسته وکړی. خورا ډېر داسې هنرونه چې کوم تاسو لری به د لېږدېدلو وړ وي.

که تاسو به وغواړی چې هم د کار پهٔ هغهٔ ډګر کښې پاتې شی، نو کېدی شي چې تاسو د دې جوګه وی چې د تخنیککار پهٔ توګه کار وکړی شی. دغه کارونه هم ځانګړي هنرونه او پوهې ته اړتیا لري خو هم د هغه کچ مسؤلیت نهٔ لري. تاسو به وکړی شی چې د خپلې ورستی تجرتي =څخه ډېر زیات هنرونه ولېږدوی. خو بیاهم، کېدی شي چې تاسو د نورو هنرونو یا نظامونو پهٔ اړه چې پهٔ برتانئي کښې پهٔ کارېږي ځان پر نبټه کړی.

که تاسو داسې پرېکړه وکړی چې خپله ژوندلار بدله کړی، نو تاسو څهٔ داسې کار کولی شی کوم چې تاسو پهٔ خپل تېرو وختونو کښې یا خو پیل کړی وو یا مو د هغهٔ پهٔ اړه فکر کړی وو. تاسو پهٔ پوهنځي کښې پهٔ نوي مضمون کښې کورس کولی شی یا پهٔ نوي ډګر کښې د رضاکار پهٔ توګه کار کولی شی. پهٔ ورځپاڼو کښې یا پهٔ انټرنیټ باندې وګوری چې معلوم کړی شی بېلابېلو کارونو لهٔ پاره څهٔ ډولو

www.advice-resources.co.uk

هنرونه پهٔ کارېږي. کله چي تاسو دا د خپل مسلک سره موازنه کوی نو تاسو به پهٔ خپله صفا تصویر و وینی چي نور کوم داسي ژوندلارې دي کومې چي د تاسو لهٔ پاره پهٔ فکر کښي نیولو وړ کېدلی شي.

## زهٔ نور معلومات د چېرته نه تر لاسه کولی شمه؟

تاسو ته به پهٔ کار وي چي لړ غوندې ځېړنه وکړی که تاسو د بیاوړتوب پهٔ اړه لیوالتیا لری. لاندېني ویبځایونه پهٔ ځانګړئي توګه سره ګټور دي:

**تولیز ویبځایونه:**

- www.prospects.ac.uk
- www.get.hobsons.co.uk

**د روغتیایي مسلکیانو لهٔ پاره:**

- www.rose.nhs.uk
- www.bma.org.uk
- http://www.rcn.org.uk/

**د ښوونکو لهٔ پاره:**

- www.gtce.org.uk
- www.refugeesintoteaching.org.uk

**د مهندسانو لهٔ پاره:**

- www.olmec-ec.org.uk/main.cfm?Type=SF&MenuId=344

**تولنیز چارندویو لهٔ پاره:**

- www.gscc.org.uk

**د څناورو د طبیبانو لهٔ پاره:**

- www.rcvs.org.uk

**د قانون د مسلکیانو لهٔ پاره:**

- http://lawsociety.org.uk

**د معمارانو لهٔ پاره:**

- www.arb.org.uk/registration/index.shtml

ADVICE RESOURCES

# ګټور تړاوونه (تماسونه)

## د کډوالو او پناه غوښتونکو لهٔ پاره لارښود



### د کډوالو اژانسونه

**Welsh Refugee Council**
www.welshrefugeecouncil.org.uk
Phoenix House
389 Newport Road
Cardiff CF24 1TP
029 2048 9800

**Refugee Council**
www.refugeecouncil.org.uk
240-250 Ferndale Road
London SW9 8DB
020 7346 6700
Advice Line: 020 7346 6777

**RAGU (Refugee Assessment and Guidance Unit)**
www.londonmet.ac.uk/ragu
London Metropolitan University
The Learning Centre
236-250 Holloway Road
London N7 6PP
020 7133 2110

**Refugee Action**
www.refugee-action.org.uk
The Old Fire Station
150 Waterloo Road
London SE1 8SB
020 7654 7700

**Employability Forum**
www.employabilityforum.co.uk
2 Downstream
1 London Bridge
London SE1 9BG
020 7785 6270

**North of England Refugee Service (NERS)**
www.refugee.org.uk
2 Jesmond Road West
Newcastle upon Tyne NE2 4PQ
0191 245 7311

**Migrant Helpline**
www.migranthelpline.org.uk
The Rendezvous Building
Freight Service Approach Road, Eastern Docks
Dover CT16 1JA
01304 203977

**Refugees Into Jobs**
www.brent.gov.uk
Policy & Regeneration Unit
3-7 Lincoln Parade
Preston Road
Wembley
Middx HA9 8UA
020 8937 1234

**PRAXIS**
www.praxis.org.uk
Pott Street
London E2 0EF
020 7729 7985

**Refugee Women's Association (RWA)**
www.refugeewomen.org.uk
Print House
18 Ashwin Street
London E8 3DL
020 7923 2412

| | |
|---|---|
| | **Council for Assisting Refugee Academics (CARA)**<br>www.academic-refugees.org<br>London South Bank University<br>Technopark<br>90 London Road<br>London SE1 6LN<br>020 7021 0880 |

## د مشورې په اړه ويبځايونه

| | |
|---|---|
| **Careers Advice Service**<br>www.direct.gov.uk/careersadvice | **Citizens Advice Bureau (CAB)**<br>http://www.citizensadvice.org.uk/ |
| **Refugee Access**<br>www.refugeeaccess.info | **Directgov**<br>www.direct.gov.uk |
| **Refugee Council**<br>http://languages.refugeecouncil.org.uk | **Multikulti**<br>www.multikulti.org.uk |

## د انګليسي زده کوونه

| | |
|---|---|
| **British Council**<br>**www.learnenglish.org.uk** | **BBC**<br>www.bbc.co.uk/skillswise<br>***www.bbc.co.uk/worldservice/learningenglish*** |
| **English Page**<br>**www.englishpage.com** | **English club**<br>www.englishclub.com |
| **IELTS**<br>www.ielts.org | **English space**<br>www.englishspace.ort.org |
| **Using English for Academic Purposes**<br>www.uefap.com | **Many Things**<br>www.manythings.org |

## کار روزګار

| | |
|---|---|
| **Hobsons**<br>www.get.hobsons.co.uk | **Job Centre Plus**<br>www.jobcentreplus.gov.uk<br>Jobseeker Direct: 0845 6060 234 |
| **Monster**<br>http://content.monster.co.uk/ | **Directgov**<br>http://jobseekers.direct.gov.uk |
| **Business Link**<br>www.businesslink.gov.uk | **Careers Advice Service**<br>www.direct.gov.uk/careersadvice<br>0800 100 900 |
| **Guardian Jobs**<br>http://jobs.guardian.co.uk | **Prospects**<br>www.prospects.ac.uk |



Produced for advice-resources by RAGU, London Metropolitan University, July 2006. Last updated: Sep 2008.

## زده کړه

| | |
|---|---|
| **Aim Higher**<br>www.aimhigher.ac.uk | **Parents Centre**<br>www.parentscentre.gov.uk |
| **Higher Education and Research Opportunities**<br>www.hero.ac.uk | **Learning and Skills Council**<br>www.lsc.gov.uk |
| **UCAS**<br>www.ucas.com<br>0870 1122211 | **Hotcourses**<br>www.hotcourses.com |
| **Educational Grants Advisory Service (EGAS)**<br>www.egas-online.org/fwa/ | **Education Action Centre**<br>www.ace-ed.org.uk<br>**0808 800 5793 (advice line)** |
| **Department for Children, Schools and Families**<br>www.dcsf.gov.uk/index.htm | **NARIC**<br>www.naric.org.uk<br>Oriel House<br>Oriel Road<br>Cheltenham GL50 1XP<br>**0870 990 4088** |

## روغتيا

| | |
|---|---|
| **Health for Asylum Seekers and Refugees Portal (HARP)**<br>www.harpweb.org.uk | **National Health Service**<br>www.nhs.uk |
| **Medical Foundation for the Care of Victims of Torture**<br>www.torturecare.org.uk<br>111 Isledon Road<br>London N7 7JW<br>0207 697 7777 | **NHS Direct**<br>www.nhsdirect.nhs.uk<br>0845 4647 |

## استوګنځی

| | |
|---|---|
| **Refugee Support**<br>www.refugeesupport.org.uk<br>MHT House<br>Crescent Lane<br>London SW4 9RS<br>0207 501 2200 | **Shelter**<br>0808 800 4444 (8am to midnight)<br>http://england.shelter.org.uk |

## رضاکارانه کار کوونه

| | |
|---|---|
| **Time Bank**<br>www.timebank.org.uk<br>0845 456 1668 | **Volunteering England**<br>www.volunteering.org.uk<br>Regents Wharf<br>8 All Saints Street<br>London N1 9RL<br>0845 305 6979 |
| **Charity Job**<br>www.charityjob.co.uk | **Jobs in Charities**<br>www.jobsincharities.co.uk |
| **Criminal Records Bureau**<br>www.crb.gov.uk<br>0870 90 90 811 (general enquiries) | **Do-it**<br>www.do-it.org.uk |

## مهاجرت

| | |
|---|---|
| **Joint Council for the Welfare of Immigrants (JCWI)**<br>www.jcwi.org.uk<br>0207 251 8706 (Advice Line) | **NASS (National Asylum Support Service)**<br>http://www.asylumsupport.info/nass.htm<br>0845 602 1739 |
| **Bail for Immigration Detainees (BID)**<br>www.biduk.org<br>0207 247 3590 | **Home Office – UK Border Agency**<br>www.ind.homeoffice.gov.uk<br>0870 606 7766 |
| **Law Centres**<br>www.lawcentres.org.uk<br>0207 387 8570 | **Refugee Legal Centre**<br>www.refugee-legal-centre.org.uk<br>153-157 Commercial Road<br>London E1 2DA<br>0207 780 3220 |
| **NCADC**<br>www.ncadc.org.uk<br>0121 554 6947 | **Asylum Aid**<br>www.asylumaid.org.uk<br>28 Commercial Street<br>London E1 6LS<br>0207 377 5123 |
| **British Red Cross**<br>www.redcross.org.uk<br>Tel: 0870 170 7000 | **Immigration Advisory Service**<br>www.iasuk.org<br>0207 967 1200 (Advice Line) |

ADVICE RESOURCES



# ژبزپرمګی (قاموسګی)

## د کډوالو او پناه غوښتونکو لهٔ پاره لارښود

APEL – Assessment of Prior Experiential Learning

ARC – Application Registration Card (پناه غوښتونکو ته ورکړلی کیږي)

Asylum seeker - داسې کس چې د پناه غوښتنې پهٔ اړه ولاړه دعوه لري

CRB – Criminal Records Bureau

CV – Curriculum Vitae

DL – Discretionary Leave to Remain

ELE – Exceptional Leave to Enter

ELR – Exceptional Leave to Remain

EMA – Education Maintenance Allowance

ESOL – English for Speakers of Other Languages

FE – Further Education

GCSE – General Certificate of Secondary Education

HE – Higher Education

HND/HNC – Higher National Diploma/ Higher National Certificate

HP – Humanitarian Protection

IAG – Information Advice and Guidance

IELTS – International English Language Testing System

ILR – Indefinite Leave to Remain



Produced for advice-resources by RAGU, London Metropolitan University, July 2006. Last updated: Sep 2008.

IT / ICT – Information Technology / Information and Communication Technology

LEA – Local Education Authority

NARIC – National Recognition Information Centre

NASS – National Asylum Support Service

NHS – National Health Service

NINO – National Insurance number

NRP – National Reference Point

NVQ – National Vocational Qualification

Portfolio– د لاسوندونو او نورو بېلګو يوه منتظمه ببخچۍ وي کوم چې دا ښائي چې پۀ تېرو کښې تاسو څۀ کړي دي.

Prospectus – داسې يو کېټلاګ پۀ کوم کښې چې د پوهنځي او د پوهنتون کورسونو لستونه وي.

RAGU – Refugee Assessment and Guidance Unit

Refugee status - د کډوال دريځ هغو ته ورکېدلی شي څوک چې د حکومت لۀ اړخه د کډوال پۀ توګه و پېژندل شي.

RCO – Refugee Community Organisation

UCAS – Universities and Colleges Admissions Service

WBLA – Work Based Learning for Adults

ADVICE RESOURCES

www.advice-resources.co.uk

The Empowering Asylum Seekers to Integrate (EASI) Development Partnership and the Partnership for Refugee Employment Through Support, Training and Online Learning (PRESTO) Development Partnership are part funded by the European Social Fund under the Equal Community Initiative Programme.